پيش روند به همان اندازه بر جرايم خويش مي افزايند . آنان بايد بدانند كه اسلام بمثابه ايديالوژي بهم پيوسته براي هر عمل اجتماعي شيوه مخصوص بخود را دارد و صرفاً باگذشتن از معبر نشانداده شده است كه ميتوان بسوي فضاي آزاد اسلامي قدم گذاشت .

طبق ارشاد باري تعالي زماني رجعت بسوي اسلام قابل قبول قرار ميگيرد كه قبل از رجعت تمام معبودان باطل رد گردند يعني رد ونفي معبودان باطل بحيث پيش شرط رجعت بسوي الله «ج» دست . تازمانيكه اله هاي متعدد نفي نگردند انسان بنده خداي يكتا ولاشريك شده نميتواند از همين سبب خداوند «ج» مي فرمايد :بگوئيد (لا اله الا للّه)طبق اين امر خداوندي هر كمونيستي كه بخواهد به دامن اسلام بيايد بايد اولاً معبود هاي باطل گذشته را نفي كند ، از گذشته پيشمان ونادم شود وبطرف خداوند «ج» باتوبه رجوع كند وباعمل صالحه صدق توبه را به اثبات برساند .در غير اين هر طريقي كه انتخاب كنند راه منافقت است وراه فريب كه ميخواهند از اسلام بمثابه وسيله بخاطر رسيدن به اهداف خود استفاده كنند . واين غير از ذلت ورسوايي بيشتر محصولي ندارد .

دوبه روسيه اودبيرته رامخي ته کيدو احتمالات ئي

دمحمدصلاح الدين ليکنه = دمحمد اسمعيل ژباړه

له نن څخه تقريباً ۷ مياشتي دمخه د ۱۹۹۰ کال دفبروري په ١٤مه د« سي ، پي ،اين ،اي » مرستيال محمود العزيز دسيمي په يوه هوټل کي دخپلي لورد واده مراسمو ترتيب نيولي ؤ، کومو ميلمونو ته يي چي دګډون بلنه ورکړي وه په هغو کي په کراچي کي دروسيي قونصل « جنرال اليګزيندر سيدوف » هم شامل ؤ . هغه چي کله راننوت زما ښي لاس ته يي يوه چوکي خالي وليده او پري کيناست ، روغبړ وشو تعارفي خبري اوکارتونه سره تبادله شول ، هغه زه ښه پيژندم تردي حده چي زما نوم يي هم زده ؤ ، ما تردي دمخه له هغه سره نه ؤ ليدلي ، په دي وخت کي پر خليج دجنګ وريځي خوري وي اودنوي عالمي نظام بر ښنا اوتندرونو بدحال جوړ کړي ؤ ، په روسيي کي نسبتاً ارامي وه اوهغوي د « پروسترويکا اوګلاسنوست » دعملي کولو په جريان کي وه . دټولي نړي پام دخليج خواته ؤ اوهلته دامريکائي پوځونو پرله پسي راتګ دجګړي خطر تقويه کاوه چيرته به چي دوه تنه سره مخامخ شول په همدي موضوع به يي خبري کولي اوکله چي « سيدوف » هم زما ترڅنګ کيناست په همدي اړه يي خبري پيل کړي ، غوښتل يي زما نظر معلوم کړي،ماله دي موقع څخه استفاده وکړه اودخبرو اړخ مي بلي خواته کړ وروسته موږ يو ساعت پر همدي موضوع خبري وکړي زما پوښتنه داوه چي آيا روسيي دامريکا نړيوال نظام منلي ؟دابر څواک کيدو هلي ځلي يي پريښي او هم دا چي د امريکا په وړاندي يي وسله غور ځولي ، اويا دا

« سيدوف» وخندل اووي ويل موږ په خپل هيوادکي دبدلونونو پر هلو ځلو بوخت يوو ددي مطلب کله دا کيداي شي چي موږ دامريکا عالمي نظام اوبرلاسي منلي ؟

چي اوس هم دمـقابلي عـزم اواراده لري ؟

« سيدوف» وخندل اووي ويل موږ په خپل هيوادکي دبدلونونو پر هلو ځلو بوخت يوو ددي مطلب کله دا کيداي شي چي موږ دامريکا عالمي نظام اوبرلاسي منلي ؟

ماورته وويل په خپل هيواد کي داخلي بدلونونو اوخليج کي دامريکا بدونيتونو يو وار بياتاسو ته ددي موقع په لاس درکړي چي رامخي ته شي . معلومه نه ده چي تاسو به له دي حالاتو ګټه واخلي که نه ؟ هغه لږ غونچ شو اووي پوښتل ! « نوي موقع»؟ هغه څنګه ؟ تردي پوښتني وروسته ماخبري کولي اوهغه په ډير دقت اوريدلي ، کله به يي دخبري دروښانو لو هيله څرګنده کړه او بيابه خبروته ځيرشو ، هغه تر آخره په تجسس کي ؤ او دهغي وجه ښايي داوه چي دهغه دتوقع اوفکر پر عکس « يو امريکايي ايجنټ ! » داسي خبري کولي چي دهغه دفکر په حاشيي کي ئي هم ځاي نه درلود .

ماورته وويل واقعيت دادي چي په نړيواله سطحه ورځ په ورځ دروسانو خواته دخلکو ميلان زياتيږي اودامريکا يانو په مقابل کي کرکه لا شدت مومي له اسلامي نړي څخه ستاسي دلري والي سبب ملحدانه اشتراکي نظام ؤ کوم چي په خپله تاسو پريښود په نوري نړي کي لاَيوي خوا دډيموکراسي اوپرولتاري آمريت اودبلي خواد اقتصادي نظام په باب اختلافات ؤ

، ګلاسنوست اوپروسترویکا دي ته هم خاتمه ورکړه پردي يي هم دبطلان خط راکش کړ، اوس روسیه دیوازي توب څخه راوتلي او دختیځ اولویدیځ سره دښواړیکو هیله لري ، دوي ته دمنلو دروازي خلاصي دي اوله دوي څخه دلري توب اونفرت فضأ تبرئه شوي اوددي پر عکس امریکا په اسلامي نړي اونورو هیوادونو کي دکرکي ، ویري اواندیښنو هدف ګرځیدلي ، داسرائیلو دپاللو ، دفلسطین اوبیت المقدس په اړه ددوي پالیسي ،دعربانو له وسایلو داستفادي، اوهلته دګوډاګیو حکومتونو جوړولو ، او اوس په خلیج کي ددوي بد غزایم او داسلامي نړي زړه ته ددوي دپوحونو پرله پسي راتګ ، البته دافغاني مجاهدینو سره ددوي بي وفاي ، دمرستو درول اودهغوي دحکومت مخالفت ، پر پاکستان داتومي وسلي په پلمه فشار ، او پرهغي دپوځي او اقتصادي مرستیو بندول ، په کشمیرکي دهندوانو پر وحشتونو چوپتیا ، په فلپاین ، برما او نورواسلامي هیوادونو کي دمسلمانانوستونزوته په بي اعتناي کتل اوهر ځاي کي د اسلام دښمنو قوتونو دپاللو له وجي په ټولي اسلامي نړي کي امریکا تر ټولو بدنام اودنه منلو وړ هیواد دي ، دخلکو په سطحه دوي هیڅ چیري دوست نلري اود واکدارانو دوستي هم دجبر دوستي وه .

دهرچا زړه چي وڅیري دټولو په زړونو کي دمارکوس ، ایوب خان ، دایران دشاه ، شاه فیصل اوضیاء الحق سره دامریکا ددوستي دنتیجي ویره ورسره شته . له امریکا څخه هم اسلامي نړي کرکه لري اوهم لویدیځ اوختیځ. له ټولو هغوهیوادونو څخه چي دامریکا نژدي دوستان بلل کیږي د استحصالي نقش څخه په ویره کي دي ، دبرتانیي ،فرانسي ، هالیند ، جرمني اونوروغربي هیوادونو ته دتیلو رسولو، دهغوي په صنعتي اودفاعي امورو کي دامریکا برلاسي خلك په اندیښنو کي اچولي چي خپله داویره کله ، کله بیانوي هم ، جاپان هم په همدي شان دي چین اوهند له امریکا څخه حه فاصله لري ، دهغوي مرسته خوټول غواړي خودهغوي نږدي والي ته یو هم زړه نه ښه کوي ځکه چي څوك پري بـاور نلري .

دامریکا نړیوالي اړیکي ټولي ددوي پرګټو پوري منحصري دي ، په هغوکي د اخلاص ، مروت او خیرخواهي نبني نشته ، ددي نتیجه داده امریکا چي کومو هیوادونو ته مرسته ورکوي لکه دموږ په شان دکرکي ، ویري اواندیښنو سوغات تري اخلي. موږ امریکا په نړي کي دټولو هیوادونو په بنسټ دبدو عزایمو هیواد بولو ، دَدي کرکي سره سره دنوي عالمي نظام اوپه نړي کي دواحد قوت خوب ګوري چي هیڅکله به يي دلاخوب ربنتیا نشي ، کرکه مزاحمت کوي هر کلي نه واړي ، په همدي خاطر دي چي نن نړي دیوي نوي صف بندي له مرحلي تیریږي ،چین له خپل چاپیریال څخه وتلي اوپه نړیواله سطحه يي هلي ځلي پیل کړي ، آلمان تریو کیدو وروسته دخپل تیر عظمت دلاس ته راوړو پروګرامونه جوړوي ، فرانسه اوبرتانیا داروپا دبرلاسي دساتلو په فکر کي دي . جاپان دروسیي اوچین سره دبنو اړیکو هلي ځلي کوي . دامریکا دوست (پاکستان) دهغوي دچنو وهلو له وجي دیوي متبادلي ذریعي په فکرکي دي په دي بدلي شوي نړي کي که روسیه دامریکا دلاس پوڅي توب په ځاي داروپا او آسیاله نوي صف بندي سره دلچسپي ونیسي ښایي دیوه نوي قوت په حیث به بیرته رامخي ته شي ،خو ددي لاري باید یوه درنده تیزه پورته کړي .

ترڅو يي دامکاناتو یوه نوي نړي په برخي شي ،په دي وخت کي « سیدوف » لږ وخوزید اووي پوښتل : «هغه څه »؟ ماورته وویل : «په کابل کي دنجیب حکومت » نوموړي دهغه د« امکاناتو»

تردي پوښتني وروسته ماخبري کولي اوهغه په ډیر دقت اوریدلي کله به يي دخبري دروښانو لو هیله څرګنده کړه او بیابه خبروته ځیرشو ، هغه تر آخره په تجسس کي ؤ او دهغي وجه ښایي داوه چي دهغه دتوقع اوفکر پر عکس « یو امریکایي ایجنټ !» داسي خبري کولي چي دهغه دفکر په حاشیي کي ئي هم ځاي نه درلود .

په باب وضاحت وغوښت ،ماپه تفصيل
سره ورته وويل چې دملګرو ملتو
(۱۲۳) هيوادونه ستاسو يرغل غندي
، تاسو ته دمبارکي پيغامونه ،نه
رالېږي تاسو يو جدول جوړ کړي او
وګوري چې تاسو دکابل حکومت دبقاء
په خاطر چې دخلکو له ملاتړ څخه
برخمن نه دي څومره دروند قيمت پرې
کوي که دا"وچ لرګي" له بوتل څخه وباسي
دښوارېکو څومره پراخې دروازې به
ستاسو پر مخ خلاصې شي ، دتاسو ټول
ګاونډي هيوادونه که اروپائي دي که
آسيايي په کابل کې ستاسې دموجوديت
مخالفت کوي،تاسو دا يرغل پاي ته
ورسوي جاپان به تاسوته دزړه له کومې
مبارکي درکړي چين وايي چې
دافغانستان له مسئلې پرته زموږ
اوتاسو په مينځ کې داختلاف ټکي
نشته ، دپاکستان اوروسيې ترمنځ
دښو اړيکو دټينګولو په لارکې
دامسئله يو خنډ دي ايران دهمدې وجې
ځان لرې نيولي ، ترکيه له همدې امله
خپه ده ، دسعودي عربستان دبهرنيو
چارووزير شهزاده فيصل څو ځلې ويلي
دافغانستان مسئلې پرته هيڅ شي
زموږ اود روسانو ترمنځ دتجارتي ،
اقتصادي اوسفارتي اړيکو دټينګولو
په لاره کې خنډ نه دي اوس دروسان به
خپله فکر وکړي چې آيا ټوله اسلامي
نړۍ اوخپل ګاونډيان يواځې دکابل په
خاطر دځان څخه ناراضه ساتل دتدبير
کاردي ؟ روسانو دمجاهدينو په پيژندلو
کې هم غلطي کړې هغوي دروسانو
لپاره خطر نه دي، مجاهدين دروسانو

سره دښو اړيکو او دامريکايانو څخه
دخلاصون اولږي توب په فکر کې دي
روسان که نن دکابل څخه ووځي
اودمجاهدينو قربانيو اوزړورتياته
داحترام په خاطر له هغوي سره
دحکومت په جوړولو کې مرسته وکړي
نو دافغانستان خلك به ټولې ترخې
خاطرې شاته وغورځوي اودروسانو يو
ښه دوست هيواد به وګرځي ددې

تبديلي له وجې به دټولې اسلامي نړۍ
دروازه د روسانو پر مخ خلاصه شي که
دفلسطين په مسئله کې هم روسان
مثبت اوتعميري دريځ غوره کړي په
دې سيمه کې به درامخي ته کيدو ښه
موقع په لاس ورشي په پاي کې ماله «
سيدوف» څخه وپوښتل آيا تاسو په
کابل کې دخپل حکومت دساتلو په
خاطر دا دروند قيمت اداٴ کول ښه بولې
؟ آيا تاسو د خپلې ګټې اوتاوان لپاره
کوم "بيلانس" او جدول جوړ کړي
اودهغه له مخې دنويو امکاناتو په
رامخې ته کيدو سره په نړۍ کې ديوه
ښه مقام پيدا کولو زحمت ګالې ؟ «
سيدوف » ووېل :

دتاله تبصرې ډېر نوي شيان ماته
معلوم شول زه به لدې نظر څخه خپل
حکومت خبر کړم اوپردې مسئله به له

تاسره نوري خبري هم وكړم .

زموږ ترمنځ دوهمه ليدنه ونشوه
ترديي ورووسته پر روسانو داسي سيلاب
راغي چي اوس پکي ډوب ښکاري ،
هغه رسي چي دوي کابل پري تړلي ؤ
دوي ته داعدام پړي وګرځيد ، څوك چي
له کابل څخه وتوته چمتو نه ؤ اوس يي
خپلې ختيځې اولويديځې سيمې يوه
يوه له لاسه وځي .

دامريكا نړيوالې اړيکې ټولې ددوي پرګټو پورې منحصرې دي
، په هغوکې د اخلاص ، مروت او خيرخواهي نښې نشته ،
ددې نتيجه داده امريکا چې کومو هيوادونو ته مرسته ورکوي
لکه دموږ په شان دکرکې ، ويرې اواندېښنو سوغات ترې
اخلي.

پر افغانستان ديرغل له وجې چي
څومره له عبرته ډکه سزادي هيواد ته
ورکړ شوه دنړۍ په تاريخ کې ساري
نلري ، دهغوي حالت نن له کابل څخه
زيات درحم وړ دي . موږ ديوي قوي
روسيي هيله لرو ، خوددې لپاره بايد
دافغانستان سلب شوي ژوند اوقوت
بيرته ورکړي .

آيا روس دخپل ژوند لپاره دالږ قيمت
پري کوي ؟ ددې پوښتنې مثبت يامنفي
ځواب دروسيې په راتلونکې پورې اړه
لري دايواځې دکابل ، نه دټولو اسلامي
هيوادونو اونړۍ سره د نويو اړيکو
مسئله ده ، زموږ نيکي هيلي اومرستې
له روسانو سره دي،موږدامريکا په لاس
دروسانو دخرابولو هيله نه لرو
دامريکا په وړاندې يي ديوه ابرځواك
په توګه ليدل غواړو اوددې امکان په
دې خاطر موجود دې چې هغه دسائنسي
پرمختګ اومادي وسايلو له مخې
امريکا سره دمقابلې توان او وس لري .

دوي غازيان ، دوي تنگياليان دي

وروور دوست محمد دپکتيا د« وزي » ولسوالي مربوط دالبدر قرار گاه زړور قوماندان دي درحمن بابا ليسي فارغ دي اوله ۱۳۴۹ کال راسي داسلامي تحريك په ليکو کي په صداقت اوميړانه ولاړدي . په ۱۳۵۷ کال ئي پاکستان ته هجرت راوکړ اودحزب اسلامي به صفوفوکي ئي بيلا بيلي چاري به بشپړ مومنانه اخلاص او مجاهدانه احساس تر سره کړي دي .

قوماندان دوست محمد دوقار ،شرافت ، متانت اوصداقت نمونه ده اوداسلام اووطن دخدمت جذبه ئي په زړه کي موجونه وهي نوموړي څه موده دمخه په گرديز کي داسلام ددښمنانو په پايگاوو باندي دبريد په ترڅ کي ټپي شو ، چي حالت ئي داطمينان وړ دي . الله «ج» دي روغ لري چي اسلام لپاره دلاخدمت له نيکمرغي برخمن شي .

***

وروړحاجي ميرزا رحيم داسلام داتل شهيد «رحيمي» مشر وروړ دي ،

کله چي وروړ« رحيمي » شهيد شو نو دسيدکرم پر جبهه دهغه شهيد نوم کيښودل شو . اووروړ حاجي ميرزا رحيم ئي دقوماندان په توگه وټاکل شو قوماندان ميرزا رحيم تر اوسه په ښه مومنانه روحيه اوجهادي شهامت دخپلي قرارگاه چاري په مخ بيائي .

***

وروړ سپين پادشاه داسلامي انقلاب دبرميال مجاهد شهيد اسداله « جهاد وال» مشر وروړ دي .

وروړ سپين پادشاه ليك اولوست نشي کولاي ، خو په ځانگړي مومنانه ولوله ئي له خپل قهرمان وروړ « جهاد وال» سره داسلام ديوه مخلص سپاهي په څير دجهاد لار پل په پل وهلي ده اوله ٥٤ کال راسي ئي دخپلو مبارزو وروڼو په صف کي د الله تعالي دکليمي دلوړ ولو لپاره ټوپك پراوزه دي . په اتل« جهاد وال» ئي برسيره يوبل زلمي وروړ« جواد » هم دخداي «ج» په لارکي قرباني شوي دي . اوپه حزب اسلامي کي دامام حسين «رض» دقرار گاه قوماندان دي دپکتيا اولوگړپه گڼ شمير جگړو کي ئي په فعالي برخي اخيستو برسيره دخوست په تاريخي فتحه کي ښه ونده درلوده اوس دگرديز جگړي په لومړي کرښه کي دخپلو مجاهدينو قومانده په غاړه لري .

دوي غازيان ، دوي ننگياليان دي

وروور احمد جان حنيف داسلامي نهضت پخواني غړي دي به ١٣٥٤ كال له خپلي كورني سره پاكستان ته رامهاجرشوي پلار او يو وروور ئي دداود دمستبد حكومت لخوا زنداني شول اوبيا شهيد كړاي شول دوروور حنيف ژوند داسلام دسرلوړي اوخپل مسلمان ملت دنجات دلاري دپرله پسي اونه ستومانيدونكي مبارزي نوم دي ، دښواخلاقو درانه كركتر شرافتمند اومهذب شخصيت خاوند دي . وروور «حنيف» په بيلا بيلو برخو كي دجهاد خدمت كړي اوس دشهيد ضياء الحق دقرار گه قوماندا ن دي او د گرديز په جگړه كي ښه نقش لري .

***

وروور سيد نوراحمد شاه دخوست دمشهور روحاني پير سيد مقتدي صاحب زوي دي د ١٣٥٧ په لومړيو كي دوي دخوست لومړي كورني وه چي له ملحد حكومت نه پاكستان ته رامهاجر شول . دسيد نوراحمد شاه كورني ترهجرت وروسته په وسلوال جهاد لاس پوري كړ اوپه خپله سيمه كي له پراخ نفوذه برخمن دي سيد نوراحمد شاه دجبهه نجات ملي دپكتيا دجهادي چارو مسئول دي دخوست په جگړه كي ئي فعال نقش درلود اواوس په گرديز كي له نوروقوماندانانو سره په پوره صميمت اوهماهنگي په جگړه بوخت دي .

***

بسم الله الرحمن الرحيم

په گرديز کي درژيم وسلوالو قطعاتو ته دپکتيا دجهاد امير پيغام !

دادي پدي وسيله يو ځل بيا درته اعلانوو چي دپکتيا زړورو مجاهدينو په پوره وحدت اوځانگړي قاطعيت تصميم نيولي چي نور په هماهنگو اوپريکنده گوزارونو دگرديز ښار دمزدوراوکافر رژيم له ناپاك حضوره خلاص کړي .

تاسي بايد پدي متيقن واوسي چي لکه درژيم دروسي بادارانو وحشي لبنکري چي داسلام دپوځ په وړاند ي په ماته ملاله افغانستانه په وتو مجبوري شوي همداسي دکابل دبي بنياده حکومت طبيعي مقدر هم له نسکوريد وپرته بل څه ندي .

تاسي وليدل چي په خوست کي درژيم پراخ ځواکونه اوپخي کلاوي بالاخره ٠ دخداي «ج» دلاري د سرتيرو جنگياليو دعزم او اقدام په وړاندي ماتي شوي او اوس په خوست باندي داسلام بيرغ رپيږي، همدارنگه تاسي ويني چي نور په دنيا کي هيڅوك هم دنجيب داقتدار په ادامه باور نلري . اودهغه سقوط له حتمياتو اومسلماتو گڼي نور بايدمنتظر وو چي هره شيبه په کابل کي دکوم لوي بدلون احتمال دي ، هغه بدلون چي نجيب به ئي ترټولو لومړي قرباني وي.

ددي ټولو واقعيتونو ترڅنگ يوځل بيا په ټينگار وايم درژيم مجاهدين منحوص حضور ځانته پيغور شميري خپل اتلوال عظمت ته ئي توهين بولي اودخپلو زرگونو شهيدانو اراووته ئي ځورگڼي ، داني پوخ هوډ دي چي انشاالله دا ځل به دخپلو جگړه ايزو ضربو په زور او تودو وينو دبهولو په برکت دخوست په څير په گرديز هم دمجاهدانه سوبي بيرغ رپوي اوپدي ډول به دشهيدپالي پکتيا له لمني دپليت رژيم دوجود تور داغ په بشپړه توگه له منځوړي .

له دي امله له تاسي نه هيله کوو چي نور خپل پخواني اشتباهات تکرار نکړي ، دخپل ولس په خلاف له جگړي لاس واخلي مه پريږدي چي لامو لاسونه دخپلو خلکو په مظلومو وينو سره شي ، مه پريږدي چي لا دپليت نجيب اودهغه ددارو دستي له رژيم سره په جناياتو اوفاجعو کي گډ شي .

مه پريږدي چي ژوند مودپرديو ځوتنو مزدورانو دهوس قرباني شي، راځي په پوره اطمينان دگران اسلام غيږ ي ته پناه راوړي اودخپل ولس لمني ته راستانه شي . داسلام غيږ او دملت لمن به تاسي ته يواځيني مطمئنه پناه گاه وي پدي پناگاه کي به انشاالله ستاسي سر مال ، حيثيت او عزت به پوره توگه خوندي وي اودنيکمرغه ژوند نعمت به درپه برخه کيږي .

يوځل بيا غواړم درته اعلام کړم چي فرصت له لاسه مه ورکوي راځي مخکي له دي چي دجگړي خو فناکي لمبي موسرنوشت وټاکي په پوره جرأت اوډاډ دمزدور رژيم له صفه خپل کتار بيل کړي اودخپل غيرتي ولس تر څنگ په دريدو سره دخپل ځرگند خير لار انتخاب کړي .

والسلام علي من تبع الهدي

« فيض محمد »

دشهیدانو یاد

دشهیدانو یاد

دشهیدانو یاد

دشهیدانو یاد

دشهیدانو یاد

شهید حاجي خیر گل :

شهید حاجي خیر گل دپکتیا ولایت دموسي خیلو دولسوالي و ، نوموړي یو گمنام قهرمان و په وار وارئي له روسانو اودهغوي له نوکرانو سره دجگړي په لومړي کربنه ډغري وهلي وي ، دیمان اوصداقت ژوندي تجسم و په ۱۳۵۰ کال دمسلمانو مجاهدینو په صف کي ودرید اودشهادت ترنتي ئي داسلام دمخلص سپاهي په ځیر غورځي پر ځي وکړي .

دحضرت عمر فاروق «رض» معاون و دخوست په لویه فتحه کي ئي دخپل نامتو قوماندان ترځنگ فعال نقش ولوباوه شهید حاجي خیر گل داسلام په لارکي تر اوږدو مخلصانه منډو ترړ رو اوتودو معرکو وروسته دگردیز په جگړه کي دشهادت لوړ مقام ته ورسید .

روح دي بناد ارمان دي پوره وي .

شیهد قاضي خیر محمد :

شهید قاضي خیر محمد دپکتیا ولایت دجاني خیلو اوسیدونکي و، له ابوحنیفي مدرسي فارغ شوي دثور له بدمرغه کودتا لیر. وروسته پاکستان ته رامهاجر شو او له خپلو مسلمانو ورونو سره دملحدینو په خلاف په وسلوال جهاد کي ودرید ، دشهادت تر ورځي په مجاهدانه برم اوشهامت داسلام ددښمنانو په ضد په مضبوطه مقابله لگیاو، داو روستي پنځه کاله دحضرت عمر فاروق «رض» دقرار گاه دحضرت حمزه «رض» دجبهي قوماندان و اود اسلام دمخلص سپاهي په توگه ئي خپلي جهادي چاري په مخ بیولي په گڼ شمیر جگړو کي ئي دمیړاني یادونه پریښودل .

دخوست په جگړه کي دشمال لخوا دتعرضي بریدونو په لومړي کرښه قهرمانانه وجنگید اودخوست دفاتحینو په کتار کي ئي دودریدو وياړ تر لاسه کړ .

دگردیز په جگړه کي ئي مخکښه ونډه واخیسته چي بالاخره ئي دیوه تعرضي برید په ترڅ کي دماین دچاودني له امله داجل داعي ته لبیک ووایه .. روح دي خوشحاله ، ارمان دي پوره وي .

سي ،آئي ،اي څه ور خپل جاسوس په روسيي خرڅ کړ!

يادونه :

سي ، آئي ، اي په بيلا بيلو هيوادو نو کي خپل هغه جاسوسان کوم چي دوي ته دزړه له تله کارکوي ، ځيني وخت چي گټي يي ايجاب کړي يائي له مينځه وړي يايي خرڅوي په دي اړه يو نوي انکشاف دروان ميلادي کال کي د« تام منگولد» په قلم ليکل شوي «د کولد واير» نومي کتاب کي شوي داکتاب د"سي ، آئي اي" .ديوي مخصوصي شعبي له هڅو.پرده پورته کوي ، کومه چي د"سي ، آئي، اي" په دننه کي دبهرنيو هيوادونو په خاطر دي ځانگي اودهغي مشر سهواً ياقصداً څه غلطي کړي ، څه وړيي د خپلو بهرنيو جاسوسانو پر سر معامله کړي ، دکتاب دا برخه چي و به يي لولي هغو خلکو ته هم يو ښه درس دي چي د بهرنيو جاسوسي سازمانو سره اړيکي لري اوهغوي ته معلومات ورکول عيب نه بولي

(اداره)

په جنوبي افريقا کي دگرميو ورځي وي د۱۹٦۷ کال دجولائي د ۲۰ مي نيټي لمر دخپل قدرت تر مظاهري وروسته خپلي ځالي ته تللي ؤ او د ماښام وخت ؤ،ټيک اووه بجي او ۱۷ دقيقي د« پتس برگ » سيمه کي دهغه کوردروازه ورو ، ورو وټکول شوه چي پکي دامريکا د نړيوالي جاسوسي اداري (سي ،آئي ، اي) جاسوس « ببر پوري نکولا ايوچ لاجينوف » شپې سبا کولي ،روسي نژاده « لاجينوف » خړ شاني پتلون او سور کميس اغوستي ؤ د « لگژري » آپارتمان په اووم منزل کي ساه نيولي دخپلي کوټي له دروازي راووت ، ددروازي ترڅنگ يي دو تنه دريدلي وليدل په هغوي کي دسور بخوني اولوړي ونې درلودونکي ده ته بيخي پردي ؤ اودوهم چي ده ښه پيژانده ددي اداري مشر « جنرال هندرک وان دين برگ » ؤ دجنرال شاته په لنده فاصله کي دوه تنه نور چي ساده کالي يي په تن ؤ .دريدلي ؤ ، جنرال په روښانه توگه تري وپوښتل .

...آيا ته « ايدمند ترنکا » يي ؟

« ايد مندترنکا » د« لاجينوف » مستعار نوم ؤ ،« لاجينوف » سرورته وښوراوه جنرال بيا ورته وويل :

« زه تادخپل هيواد پرخلاف دجاسوي په.تور نيسم »

داغږ دښايسته ويښتو اوښې درلودنکي ځوان « لاجينوف» ته د يوي وحشتناکي پيښي پيل ؤ ، دامريکا « سي ،آئي ، اي » مشر « جيمز جيس اينگلي تن » چي « لاجينوف » ته دستور ورکونکي هم ؤ له دي انکار وکړ چي هغه زمور جاسوس دي « لاجينوف » په داسي حالت کي ؤ چي دهغه په تقدير کي دتباهي اوويري بدي راتلونکي پرته څه نه ؤ .

اته کاله پخوا « لاجينوف » چي دروسي جاسوسي اداري « ك ، جي ، بي » يو لوړرتبه صاحب منصب ؤ په ډيري زيرکي سره ښکيل اود « سي ، ائي ، اي » دجاسوسي اداري غړي شو ، هغه په دي وخت کي دواړو خواووته کار کاوه ، دټولو ستونزو سره سره يي امريکايانو ته په اخلاص اووفاداري سره دنده سرته رسوله دبريتونو او ويري نه درلودونکي او تر ډيره حده دښځينه څيري له و جي « کي ، جي ،بي » ده ته په پيل کي ديوه غير قانوني جاسوس په حيث د کار کولو وړانديز وکړ خو وروسته له ډيرو سختوروزنو څخه راووت اويوه داسي غربي هيواد ته يي ددندي سرته رسولو لپاره وليږه چي هلته يي په خورا احتياط اورازداري سره خپل هيواد ته جاسوسي کوله خو « ميجر لا جينوف » د « ك ، جي ،بي » له کليدي روزني څخه تر خلاصيدو وروسته

دسختي ويري ښكارشوي ؤ هماغه ؤ چي په « هلسنكي» كي ئي دامريكا سفارت ته پناه وروړه اودهغي ترڅنګ يي « سي ، آئي ، اي » ته خپل خدمتر ه اوهلي ځلي وقف كړي ، په « سي ، آئي ،اي » كي ددندي تر اخستلو وروسته دهغه لومړي آمر امريكايي « رچر دكاوچ » ؤ چي په روسي ژبه يي ښي خبري كولي شوي هغه « لاجينوف » ته په ښكاره توګه په « ك،جي ،بي » كي دپاتي كيدلو اوپه پټه توګه « سي ، ائي ، اي » ته دكار كولو امر وكړ : ، ديوه جاسوس لپاره داتر ټولو خطرناك حالت وي ځكه كه دهغه راز افشاء شي نو سزا به يي پر ټټر دګوليو لګيدلو پرته بل څه نه وي خو« لا جينوف » راضي شو اوپه دي ډول هغه دامريكا دحكومت يو منظم جاسوس وګرځيد ، « لاجينوف » شپږ كاله دبيلا بيلو آمرانولاس لاندي « سي ،آئي ، اي » كي په ښه معاش كار وكړ هغه دومره پيسي پيدا كړي چي د ډير عالي ژوند دتيرولو سره يي اوس هم دجينوا اوپاريس په بانكونو كي پيسي پرتي دي ؛ د « سي ،آئي ، اي » هدايت ده ته داؤو هر چيرته چي « ك ، جي ،بي » دنده درسپارله هلته ځه ، او ددي ترڅنګ دخپل كار ټول راپور« سي ،ائي ،اي » ته وركوه ، د« لاجينوف » اخلاص وګوري چي حتي هغه په ماسكو كي دروزني ددوران ډيزه وره خبره (دچايو په وخت خبري اتري) هم واشنګټن ته ورسولي ، « ك ، جي ، بي لاجنيوف » ته په شمالي امريكا كي دنده وروسپارله ، امريكايانو ته ترډي زياته دخوښي خبره څه وه په دي ډول يي كولي شول چي د« ك، جي ،بي » له ټولو پروګرامونو خبر وي اوهم يي له دي لاري « ك، جي ،بي » په غلطو راپوروونو دوكه كولي شوه ، په « سي ،آئي ،اي » كي د« لاجينوف » پخواني مستعار نوم « ديكتو» ؤ .

په پاريس كي به « لاجينوف » (هغه وخت چي « ك،جي ،بي » كي يي هم دنده سرته رسوله) دشپي لخوا په « سي ،آئي ،اي » كي دخپل آمر سره اوړه په اوړه نائت كلبونو ته تلو ، شراب به يي څكل اوپه نشو كي به غرق شو كله ناكله به يي ناڅاپي ويل .... "زما ژوند اوس دتاسـو پــه لاس كي دي ... »

وروسته بيا « ك، جي ،بي » په (۱۹۶۷ كال كي « لاجينوف » جنوبي افريقا ته وليږه چيرته چي ده ته افسانوي نقش سرته رسول په برخي شول ترڍي وخته « لا جينوب» او په « سي ، آئي ، اي » كي دده مشر له دي خبري ناخبره ؤ چي د« لينګ لي» برخي په يوي عومي ځانګي كي ګډودي پيل شوي . دامريكا دنړيوالي جاسوسي اداري مسؤل اود« سي ،آئي اي » . مشر « جميز جميس اينګلي تن » تصميم ونيوه چي په « سي ، آئي ،اي » كي مشكوك خلك پيدا كړي .

په كومي ځانګي كي چي له « لاجينوف» څخه كار اخستل كيده هغه يي هم تر سختي ځارني لاندي ونيوه په دي ترځ كي كله چي « اينګلي تن » كارپيل كړ په واشنګټن كي د« سي ، آئي ، اي » په فضاء كي دبي اعتباري وريځ په ګرځيدوؤه، دبده بختـه چي په « سي ،آئي ، اي » كي د« لاجينوف پرلومړي آمر « رچر دكاوچ » باندي د « ك ، جي ، بي » دجاسوس اشتباه راغله او « لاجينوف » هم تر شك لاندي راغي « اينګلي تن » فكر كاوه چي كه « رچر د كاوچ» غداردي دهغه ټول جاسوسان غداران دي ، پر « لاجينوف » دشك يوبل سبب هم ؤ په ۱۹٦٤ كال كي د« يوري ناسنكو » په نوم د« ك ، جي ، بي » يو بل جاسوس هم له وطن څخه وتښتيد اوامريكا ته راغي كه څه هم چي هغه مخلص ؤ خو « اينګلي تن » ګمان كاوه چي « يوري ناسو» له چل څخه كاراخلي ، د« ك ، جي ،بي » لوړرتبه غړي « سي ، آئي ،اي » ته ددوكي وركولو په خاطر له يوي طرحي څخه كاراخلي هغه دا چي خپلو مخلصو افرادو ته دغداري كولو چالونه ورښيي تر څو امريكا تباه كړي ، « اينګلي تن » پر « ناسنكو » دومره اشتباهي ؤ چي پر هغو ټولو خلكو اشتباهي كيده چابه چي ويل چي دي مخلص اووفادار دي ، ناڅاپي چي « لاجينوف » د « سي ، آئي، اي » د صاحب منصبانو په وړاندي له « ناسنكو » څخه ملا تر وكړ اوپه دي توګه « لاجينوف » په خپله دځان دتباهي اسباب برابر كړل .

« اينګلي تن » انديښنه درلوده چي « ايف ، بي ،آئي » به دده د شبهاتو خيال ونه ساتي اوله « لاجينوف » څخه به هماغسي كار اخلي ، په دي خاطر ؤ چي « اينګلي تن » د « سي ،آئي ،اي » پردي مخلص جاسوس د« ك ، جي ، بي » دجاسوسي اداري ته دكار كولو تورو لګاوه اوپه جنوبي افريقا كي يي ونيوه داډير ماهرانه چال ؤ ، « لاجينوف » دزندان شپي سباكولي ، اودجنوبي افريقا جاسوسي اداري د « اينګلي تن » جاسوسانو ته

دپوښتنو موقع ورکړه ، « اینگلي تن » دخپلې ژورې توطیئې له لورې په « سي ،آئي ،اي » کې د« لاجینوف » له ټولو اسنادو یوه مستنده اعلامیه جوړه کړه ټریوالو آژانسونو ته یې ورکړه ، او داسې ئې وښودله چې داهغه اقرار دی چې « لاجینوف» له نیول کیدو وروسته کړی دهمدې چالونو اوتوطیئې له امله ؤ چې« لاجینوف » په خلکو کې د« که ، جي ،بي » دیوه جاسوس په توگه وپیژندل شو ، « لاجینوف» تر نیول کیدو وروسته دوه کاله زندان کې تیر کړل خو تر آخره پر خپل دریځ ټینگ ولاړؤ هغه دا تور رداوه چې هغه د« ك، جي ،بي » جاسوس دی په دې خاطر ؤ چې تر ۱۹۶۹ کال پورې مطبوعاتو اومخالفو گوندونو یوه غوغا پورته کړه چې پر جاسوس نه تورونه رښتیا ثابت شول او نه هغه ته کومه سزاء ورکړل شوه ؟ په دې ترڅ کې « سي ،آئي ،اي » هم له ستونزو سره مخامخ شوه .

جنوبي افریقا ته هم څه ستونزې پیدا شوې اوبالاخره په همدې حالاتو کې "جنرال وان دین برگ » دا غوره وبلله چې په پټه توگه واشنگتن ته لاړشي اوهلته د« سي ، آئي ،اي » په مرکز کې له خپل دوست « اینگلي تن » سره وگورې ، دامریکا دولت هغه ته ویزه ورکول ښه ونه بلل چې « سي ،آئي،اي" په پټه توگه دهغه داغوښتنه پوره کړه ، تر خبرو اترو وروسته ، « اینگلي تن »« جنرال وان دین برگ » اود « سي ،آئي ،اي » لوړ رتبه غړي پړدې خبره متفق شول چې ختیځ جرمني چې دغربي المان کوم یوولس جاسوسان نیولي دهغوي دخلاصیدو په بدل کې « لاجینوف » خوشي کړي اودختیځ المان په سرحد کې ئي کمونستانوته وروسپاري په دې توگه به ما رهم مړشي اولرگي به هم مات نشي او په نړۍ کې به دا خبره خپره شي چې « لاجینوف» په اصل کې د« کي ، جي ،بي » یووفادار غړی وؤ غربي آلمان پدې کار کې زیاته دلچسپي وښوده ، « لاجینوف» تردوه کاله زندان وروسته

> دېرېتونو او بریې نه درلودونکې او تر هېره حده دښځینه ځیرې له ی چې « کي ، جي ،بي » ده ته په پیل کې دیوه غیر قانوني جاسوس په حیث د کار کولو ورانديز وکړ خو وروسته له ډیرو سختورونو څخه واورت اویوه داسې غربي هیواد ته یې دډلرې سرته رسولو لپاره ولیږه چې هلته یې په خورا اختیار اوراز داري سره خپل هیواد ته جاسوسي کوله

د۱۹۶۹ کال دجولائي په ۱۲ مه خوشي شو ، سامان اونورشیان یې وروسپارل ، امروشو چې سمدستي دې کالي بدل کړي او لاسونو ته دې ولچك ورواچول شي په سرکې دې « کرنل مائیك جلدن ، سیوز» ته وښودل شي او تر هغې وروسته دې څلوربجې د« هنس برگ » په هوائي ډگر کې دآلمان په الوتکه کې سپور کړای شي .

سهارپنځه بجې اولس دقیقې الوتکه دافریقا په فضاء کې معلومه شوه ، خو دورې یې وخوړې اوداروپا خواته روانه شوه ، « لاجینوف» له جلدن هیوز» څخه وپوښتل ، هغه په افریقایي لهجې ځواب ورکړ :

«.... څه معامله کیږي ، خوشحاله اوسه چې ته بیرته دخپل هیواد خواته روان یې » په الوتکه کې یې له « لاجینوف » څخه زولنې خلاص کړې ، خو هغه ته یې څه شی ته دلاس وروړلو اجازه نه ورکوله ، کله چې تشناب ته تلو « هیوز» ورته وویل : دروازه خلاصه پریږده .

هغوي ویریدل چې لاجینوف خودکشي ونکړي اوکه دا کارئې کړي وې ټوله معامله به د خاوروسره خاورې شوې وه

د «فرانکفرت » په هوایي ډگر کې دوه موټر د« لاجینوف» لپاره دریدلي ؤ چې دي دختیځ آلمان تر سرحده ورسوي ، هغه یې لومړي موټر ته واچاوه ،معامله کوونکي څني له ده سره په موټر کې کیناستل اوځني هغه بل موټر کې سپاره شول ، د« لاجینوف » پرته ټولو پرځان مستعار نومونه ایښي ؤ ، موټر بالاخره د« پرلس هاسن » سرحدي تاڼې ته ورسید، دسرك ختیځې خواته د« ك، جي ،بي » څو تنه غړي دختیځ آلمان له صاحب منصبانو سره دریدلي ؤ . په تاڼي کې دختیځ آلمان هغه وکیل هم دریدلي ؤ چې « ولف گینگ فوگل» یې بولي او دجاسوسي په معاملو کې خاص مهارت لري ، د« لاجینوف » حالت درحم وړ ؤ « سي ،آئي ،اي » دهغه سره بې وفائي وکړه اواوس د« ك، جي ،بي » جلادانو لاس ته ورته ، هغوي ته ددې معلوموول چندان مشکل کارنه ؤ . چې « لاجینوف » دروسیې سره غداري کړې اود« سي ،آئي ،اي » لپاره یې کار

کاوه کله چي هغه حاي ته ورسيدل « لاجينوف » زيات کوښښ وکړ چي « ک، جي ،بي » ته يي وورنه سپاري هغوي ته يي په نرمه لهجه وويل : په غرب کي ديوه عادي ژوند موقع راکړي » ، هغه داخبري دامريکا د« سي ، آئي ، اي » دغړوپه وړاندي وکړي څکه پوهيده چي دامريکايانو دانکار په صورت کي دا خبري د« ک، جي ،بي » لاس ته وورنه لويږي . دلويد يځ المان دغړو سره دخپلو دولس تنو جاسوسانو دخلاصون فکر و د « لاجينوف » غړ. چاواوريده ورروسته معلومه نشوه چي هغه دکومي جذبي له مخي د« جلدن هيوز» سره په تاني کي ديوه عکس اخستلو هيله څرګنده کړه دهغه دا غوښتنه ومنل شوه اوپه آخرکي يي داځو خبري « جلدن هيوز» ته وکړي « که جنوبي افريقا ته ورسيدي زما سلامونه اونيکي هيلي به جنرال « سندرك وان دين برګ » ته ورسوي ، او ترهمدي خبري وروسته « لاجينوف » په نه زړه د« ک، جي ،بي » دغړو موټر ته ورروخوت .

داهغه وختونه و چي له روسيي څخه يو وسپنيز ديوال تاوشوي ؤ ، ددي ديوال دننه به چي څه کيدل دهغو څخه به کم خلك خبريدل همداوجه وه چي هلته به هر څه پيښ شول هر چابه دخپل قياس له مخي خبر کوله اودهغو څخه به حتماً يو،رښتيا وتله ، د« لاجينوف » پټ رازونه تر لسو کالو پوري دامريکا په « سي ،آئي ،اي » کي خوندي ؤ ، په همدي وخت کي د« سي ، آئي ، اي » غوږته يو خبر ورسيد چي « لاجينوف» په ماسکوکي اعدام شوي . په ۱۹۷۷ کال کي « اينګلي تن » له خپلي دندي څخه ايسته کړاي شو ، دري کاله وروسته « جارج کيلارس » چي د « اينګلي تن » پرځاي ټاکل شوي ؤ ، د« لاجينوف» دوسيه پيدا کړه اوپرهغي يي دتحقيقاتو امر ورکړ ،دا دنده يي « جيك فليد هاوس» ته چي په ډير عزت سره يي دنده پريښي وه ورروسپارله داهغه صاحب منصب دي چي د« يوري ناسنکو» دوسيه يي څيړلي وه اوويلي ؤ چي داد« سي ،آئي ،اي » وفادار غړي دي ، د « فيلدهاوس » له پلټنو داخبره راڅرګنده شوه چي « لاجينوف» هم د« يوري ناسنکو» په ډول د« سي ،آئي ،اي » وفادار غړي ؤ .

اود« ک، جي ،بي » د منحرفولو زياتي کارنامي يي سرته رسولي وي ترډي وروسته بيا « سي ،آئي ،اي » ، « لاجينوف» دپيرزويني په توګه دهغه له کارنامو اووفادارۍ يو ريوټ جوړ کړ اوهغه يي مطبوعاتو ته وسپاره ، خو په همدي وخت کي اوسپنيز ديوال له منځ څخه د« ګاريوسکي » په وسيلي د« لاجينوف » په باب يوبل داستان غربيانو ته ورسيد هغه داسي وو چي کله «لاجينوف» په غرب کي ؤ پر هغه يي د« ک، جي ،بي» دجاسوس تور ولګاوه اوپه همدي توريي دلويديځ آلمان له «۱۱» تنو جاسوسانو سره تبادله کړ او بيا کله چي « لاجينوف » په ۱۹۶۹ ديوه بندي په توګه « ک، جي ،بي » ته ورروسپارل شو اوهغه يي د تحقيقاتو لپاره ماسکوته ولېږه ، نو روسان له دي خبر نه ؤ چي« لاجينوف» د «سي،آئي ،اي» سره اړيکي درلودي کله چي « لاجينوف » ماسکوته ورسيد له هغه څخه يواځي په دي باب پوښتل کيدل چي ده ولي د« ك، جي ،بي » راز امريکا يانو ته سپودلي ؟ خوترډي وروسته دا خبره پټه وساتل شوه چي داحالت دسيستم دخرابي له وجي رامخي ته شوي .

په دي خاطر چي « ك، جي ،بي » هغه ته ديوي قانوني لاري پرته داسي مهم کارسپارلۍ ؤ اوپه دي لاره کي د« لاجينوف » فطري کمزوري هم دخيله وه وروسته بيا پلټونکو نظر ورکړ چي پر « لاجينوف » ټول تورونه غربيانو لګولي وو اوهغه دقانون پر خلاف عمل ندي کړي ...

په همدي خاطر ؤ چي « لاجينوف» ته يي يواځي دومره سزا وټاکله چي له « که ،جي ،بي » يي وايسته او د« ګورکي » په ښارکي يي په يوه ښوونځي کي ښوونکي وټاکه ،خو ترډي پيښي لس کاله وروسته چي دامريکا يانو حماقت يا دوکه بازي څه ګلان وغړول دهغي اندازه لګول مشکل کارنه دي ، آيا « سي ،آئي ،اي » سره دهغه داړيکو ، وفاداري او کارنامو ترمعلوميدو وروسته به « لاجينوف» په څه ډول نيول شوي وي ؟ اوڅه چال اوچلند به ورسره شوي وي ؟ ددي خبري ختمي کيدل چي « ك، جي ،بي » ته د« لاجينوف» په باب هرڅه معلومه شوي دي هغه وخت معلوميږي چي کله د« بي ،بي ،سي » يوه تلويزيوني خبريال په ۱۹۸۹ کال کي د« لاجينوف » په باب د « ك، جي ،بي » له ويندوي څخه وپوښتل هغه په تنده لهجه ځواب ورکړ:

« که تاسو د« لاجينوف» په باب څه معلومات لاس ته راوړل غـــواړي د « سي،آئي، اي» څخه ئي وپوښتي .

تجاوز نظامي مابر افغانستان (حماقت) مابود

ملاقات يك ژورنالست معروف پاكستاني با رهبر كودتاي ناكام روسيه (گنادي يانايف) :

ترجمه :محمد معروف « فروغگر »

« گنادي ايونوويچ يانايف» بعداز دونيم روزپادشاهي از طرف رئيس جمهور معزول روسيه (گورباچوف) از قدرت معزول شد - گنادي يانايف معاون منصبي گورباچوف بود، وقتي كه درسال گذشته باوي ملاقات مي كردم وي مدارج ترقي را يكي پي ديگر پشت سر ميگذاشت ، درآن هنگام گنادي يانايف ركن ۳ ساله كانگرس ملي ورئيس شوراي عمومي كارگران روسيه بود ، وي به كميته مركزي حزب كمونيست راه يافته بود وعضو بيروني سياسي بود اضافه بر آن رئيس انجمن رهايي اسيران روسي بود واز همين حيث ميزبان من نيز بود .

اسيران جنگي روسي كه در دوران جنگ افغانستان به دست مجاهدين اسير شده بودند ، هنگامي كه روسها از افغانستان خارج شدند . مسأله يي بود كه توجه مقامات روسي را بخود جدا معطوف داشته بود ...

ودعوت من به روسيه نيز به روي يكي از انگيزه هاي مهمي بود كه در رابطه با معضلهء افغانستان نزد سران روسي وجود داشت « گنادي يانايف» يكي از دولتمردان برجسته روسيه بود كه دوساعت مكمل باهم ملاقات وگفتگو داشتيم ، اين گفتگوي مابه زبانهاي روسي واردو وصورت ميگرفت ، مترجم ما « ديمتري نووسيلوف» بود كه از پوهنتون دهلي داكتري اش را در زبان وادبيات اردو گرفته بود .

من در آغاز گفتگو به فرمايش پروفيسور « يوري گنكوسكي » بر سر مسالهء افغانستان از ديد گاه مجاهدين وحكومت پاكستان صحبت كردم ... چون نوبت به « گنادي يانايف» رسيد گفت :« من بعد ازآن كه سخنان شمارا شنيدم واز موقف شما مستقيماً آگاهي حاصل كردم در قسمت قضيه افغانستان معلومات هرچه بيشتر وخوبتر را كسب كردم » اين فقره وجمله رامن از زبان كسي مي شنيدم كه نزده سال بعداز پيروزي انقلاب اكتوبر چشم به جهان كشوره بود . ملتش را در برابر حمله هتلرنديده بود كه چگونه مقاومت كرد وقدراست كرد كسي كه در ايام جواني اش روسيه را درحالتي ديده بود كه در زمره ابرقدرتها احراز مقام ميكند ... كسي كه روز هاي بهترين وبيشترين عمرش رادر عروج وترقي روسيه سپري نموده بود وصرف عمرش را صرف نكرده بود ؛ بلكه در اين امر نقش مهمي نيز داشت ... واكنون در پخته سالي سخنان تلخ وترش يكتن از فراد كشوري نسبتاً كوچك ودر گير در جنگ را مي شنيد ...

درسيماي « گنادي يانايف» آثار اطمينان وحوصله مندي هويدابود ، اين حوصله مندي را من احساس ميكردم ، گرچه وي بادر نطرداشت حدود قوانين حكومتي حكومت روسيه گفتگو كرد ؛ وي قطع نامه كانگرس ملي روسيه را كه در آن روز ها تجاوز نظامي روس بر افغانستان راتقبيح كرده واشتباه بزرگ تلقي نموده بود تاييد نموده بسيار مهم شمرد براين قطع نامه آقاي « يانايف » يك جمله بيانيه ولي تاريخي اش را نيز اضافه كرد وگفت :« درزندگي عادي حماقت از انسان سرميزندومكرراسرميزند ؛ اما

حماقت سياسي يا بروز حماقت در سياست تراژيدي بزرگيرا بميان مي آورد ».

***

من در دوران اين ملاقات آقاي گنادي يانايف را دومرتبه ديدم كه حوصله مندي اش را از دست داد ، يكي زماني

يانايف به اين عقيده بود كه مسألة اسيران جنگي بين مجاهدين ونجيب حيثيت نقطهء ربط را بخود گرفته ميتواند اگر مجاهدين با عايد كردن كميشن اسيران روسي را رهاكنند ميتوانند در عوض آن دهها تن ازرفقاي شان را نيز قسم تبادله رها نمايند .

كه درقسمت رهايي اسيران روسي دلايل ميگفت ... ومن برايش ميگفتم كه رهايي اسيران روسي بخشي از معضلهء افغانستان است ووي توأم باجوش وخروش دفاعي ، چون يك وكيل مدافع استدلال ميكرد ومن وي رابه پيچيدگي وبغرنجي اين معامله ، مستمرا متوجه ميكردم ، من ميگفتم :« بسيارمشكل است كه مجاهدين فقط راضي شوند كه اسيران روسي را رها كنند » وي درين ضمن پيشنهاد كرد كه درمقابل رهايي اسيران روسي ، اسيران مجاهدين نيز رها ميشوند واو ميتواند در اين باره نجيب الله سخن گويد .

مرتبه دوم آقاي « يانايف » وقتي برافروخته شد كه در بارهء نوعيت مذاكرات نجيب ومجاهدين صحبت بعمل آمد . من برايش گفتم كه مجاهدين به هيچ نوعي از انواع نمي خواهندبا نجيب عقب ميز مذاكره بنشينند چه اين مذاكره مستقيم باشد يا غيرمستقيم وبالواسطه ... من اورااز موضعگيري مجاهدين در برابر حكومت نجيب اگاه ساختم ، كه مجاهدين به سطح سياسي حكومت نجيب را غير قانوني وغير مجازميدانند وبه سطح اجتماعي مشكلاتي كه دامنگير ملت افغان شده است وفجايع وجناياتي كه برآنها رواداشته شده است . نجيب را يكي از مسؤولين اين مشكلات ميدانند .

يانايف به اين عقيده بود كه مسأله اسيران جنگي بين مجاهدين ونجيب حيثيت نقطهء ربط را بخود گرفته ميتواند اگر مجاهدين با عايد كردن كميشن اسيران روسي را رهاكنند ميتوانند در عوض آن دهها تن ازرفقاي شان را نيز قسم تبادله رها نمايند .

من برايش گفتم كه باوصف رهايي ده ها تن مجاهدين اسير بازهم اين عمل را مجاهدين بحيث به رسميت شناسي حكومت نجيب تلقي ميكنند واقدام به اين كار نمي نمايند ونه به اين كار اماده ميشوند .. در اين اثنا« يانايف » گذشته از حد حيران شد.. وچون گفتم كه اسيران مجاهدين نيزبه اين كار راضي به اين كارنيستند وشايد در آن صورت بعداز رهايي رهبران شان را مورد طعن قرار دهند وي با وجود حيرت زياد باروح پرخاشگري ملت افغان آشنا مي شد كه يقينأبروي سخت تمام ميشد ورنج ميبرد .

***

در جريان بود وباشم در روسيه در سفري از كمونيزم بسوي جهان آزاد من در جامعه روسيه چهار جريان را احساس كردم ؛ يكي آن كه سريعتروپيش قدم تر از گورباچوف بسوي جهان آزادي حركت ميكرد دوم آن كه با گورباچوف همگام وهمركاب بود ورفيق فكري وذهني گورباچوف . سوم آن كه هنوز در حصار طلسمات واسير چهار دهه طلايي دوران ابرقدرتي روسيه بود ، ولي حالات جبر وطبعيت اوضاع نوين پيشرفت وترقي شخصي «Suvivad» اورامجبور مي كند كه باگورباچوف همنوايي كند : يانايف درهمين زمره سوم قرار داشت وچهارم آن بود كه مانند ليگاچيف ركن بيروني سياسي بر نظام كهن كمونيزم معتقد بود وبه نحوي از انحا آزان ياد آوري وتاييد نيز ميكرد .

قبل از پايان ملاقات گنادي يانايف به رهبران مجاهدين افغانستان پيام داد وبه رئيس انجمن مادران اسيران روسي « مادام پاپلاوسكايا » كه وي را خود دعوت داده بود گفت كه دررابطه با اسيران جنگي روسيه ابراز نظر كند وقتي از انجا رخصت ميشدم يانايف گفت : با امريكا نيز اختلافات داشته ايم اكنون آن راحل ميكنيم ، سپس وي بحوالهء رئيس جمهوراسبق امريكا گفت كه كف زدن كاردودست است ويا از يكدست صدابر نمي برآيد، اين پيغام را به مجاهدين نيزبرسانيد .

***

۱۹اگست ۱۹۹۱ طبق وقت ماسكو ساعت شش صبح از طريق امواج راديو تلويزيون روسيه زعامت «گنادي يانايف » وتشكل كميته هشت نفري حالات اضطراري اعلان شد در اين كميته علاوه بر « يلنيتين پاولوف»ن نخست وزير ، دومتري يازوف وزيردفاع ،

بوریس پوگووزیر داخله ، ولادیمیرکریچکوف رئیس « کي ، جي ، بي » روساي اتحادیه ها کارگران ودفاعي نیز شرکت داشتند . این کمیته هشت رکني اعلام داشت که گورباچوف نظر به مریضي یي که دارد نمیتواند در سمت صدارت کشور وظایفش را بطور درست انجام دهد ، معاون صدارت گنادي یانایف در کانفرانس مطبوعاتي اش در باره ء گورباچوف شصت ساله گفت : گورباچوف در دوران کارشش ساله اش بسیار خسته شده است ، اکنون هنگام کـــار دستهایش مي لرزد ...

اردوي روسیه سه ساعت بعداز اعلان برطرفي وعزل گورباچوف ساعت نه صبح در پایتخت روسیه (ماسکو) پخش شدند ، دونیم ساعت بعد یا دونیم قبل از ظهر بوریس یلتسین اعلان مقاومت کرد ودر قصر پارلمان روسیه سفید سنگر گرفت ماسکو علاوه بر اتحاد جماهیر شوروي مرکز جمهوریت روسیه سفید که نسبت به پانزده جمهوریت دیگر اتحاد جماهیر شوروي بزرگتراست ، نیز هست ، گویا این انقلاب ۲۱ اگست ساعت پنج شام جان داد . درباره ء این انقلاب دونیم روزه سه سوال مهم مطرح میشود که از ین قرار است :

۱- بوریس یلتسین را چرامانند گورباچوف گفتار نکردند ؟

۲- روابط خارجي یلتسین قطع نه شد وچرا به وي درجهان خارج بارفقا وپشتیبانانش اجازه رابطه داده شد ؟

۳- به وسایل ارتباط جمعي ویارسانه هاي گروهي و(تلویزیون نت ورك امریکا) چرا اجازه داده شد که اخبار انقلاب را لحظه به لحظه پخش ونشر کنند؟

طوري معلوم میشودکه این انقلاب بدون کدام پلان طرح شده ومنظم به راه انداخته شد وصرف نتیجه پرخاش وعصیان مقطعي بود؛ وجوهات این برافروختن مقطعي خیـلي روشن است :

* تذلیل واهانت رئیس جمهوري روسیه در کانفرانس کشورهاي هفتگانه صنعتي بزرگ که وي نیز در این کانفرانس بحیث مبصر شرکت کـرده بود .

* سفر اخر«بش » به روسیه وروش آمرانه آن باسران روسیه .

* معاهده جدید بین جمهوریتهاي روسي که قراربود به تاریخ ۲۰ اگست امضاء شود و طي این معاهده به جمهوریت ها آزادي داده میشد که در قسمت بعضي موسسه هاي صنعتي مربوط به جمهوریت خود شان آزاد باشند و کمونستهاي افراطي با این امر مخالف بودند .

> وزیر داخله ، وزیردفاع ورئیس سازمان « کي، جي ، بي » در یك نشست دربسته گورباچوف را نسبت به سیاستهاي کرنش پذیرانه اش درقبال امریکا تهدید کردند ومورد انتقاد وملامت قرار دادند .

شواهدي در دست است که عصیان مقعطي را هرچه بیشتر تایید میکند ؛ مهم تر آن این که نخست وزیر «پاولوف » در اسامبله ملي روسیه شوروي طالب صلاحیتهاي بیشتر شده گورباچوف را مورد انتقاد قرار داده گفت که باوي براي بسررسیدن امور بسیار مهم وقت کافي نیست ، وزیر داخله ، وزیردفاع ورئیس سازمان « کي، جي ، بي » در یك نشست دربسته گورباچوف را نسبت به سیاستهاي کرنش پذیرانه اش درقبال امریکا تهدید کردند ومورد انتقاد وملامت قرار دادند .

به هرحال از گورباچوف گرفته تانمایشگر قدرت ملي (بوریس یلتسین) ورهبر انقلاب ناکام (گنادي یانایف) باتمام رفقایش تاهنوز در (کوره) انقلاب اند ... از ۱۹۱۸ هفتادوسه سال بعد (۱۹۹۱) نمایش این انقلاب ملي ومردمي تاهنوز به هدف اصلي ومنزل مقصدوش نرسیده است تا هنوز افراد وعوامل پس پرده انقلاب دونیم روزه روسیه نیز تشخیص نشدند ، سخن گوي اسامبله عالي روسیه اناتولي نیز تاهنوز مورد اشتباه است ، یانایف باوصف همیشه کمونیست بودنش در دام کمونستها افراطي افتاد یا موقتاً حوصله اش بالا رفت وخود را از دست داد .... وکسي که حماقت رادرسیاست تراژیدي تلقي میکند ، چرا اسیر ومرتکب این حماقت شدوخود شکاران شد ...؟

(پایان)

ژورنالیزم او ادب

انجمن تحقیقات علمي ومشورتي

ولتکن منکم امة یدعون الي الخیر ویامرون باالمعروف وینهون عن المنکر واولئك هم المفحون (آل عمران - ۱۰٤)

ژورنالیزم دژورنال څخه اخیستل شوي چي معني ئي ده دورځني حساب لیك یا روز نامه یا ورځپانه. اوس ئي مفهوم دادي چي خلکوته قضایا اوواقعیتونه تشریح کول ، دهغوي پس منظر ورته روښانول اودمستقبل احتمالات ئي ورته څرګنول ژورنالیزم دي . یو ژورنالیست مکلفیت لري چي دیوي پیښي په باب دا شپږ پوښتني ځواب کړي" څوك ، چا ، څه وخت ، چیري ، ولي او څه ډول ؟ دنشرئي مسؤولیت دي چي دیوي قضیي یا جریان په برخه کي ژورمعلومات ترلاسه کړي او هغه تحلیل ، تفسیر اوتعلیل کړاي شي ، یعني څرګنده کړي چي هغه ولي پیښه شوه ، پس منظرئي څه وو؟ او لوستونکي ته به وړیه ګوته کوي چي دده په ټولنیز ژوند څه اغیزه پري باسي اودده سرنوشت اومستقبل څه ډول متأثر وي .

ژورنالیزم یو اساسي اوپاك رسالت دي ، یوه ښه اوسرلوړي ژورنالیست ته چي واقعاً غواړي دا مسلك دیوه فکري رسالت اوټولنیز ماموریت په توګه پرمخ بوځي لازمه ده چي په زیاتو عمومي معلوماتو سنبال وي او باید کم تر کمه دژوند دټولو مهمو برخو دعلومو داساساتو او کلیاتو په باب معلومات ولري . اودحقایقو دمعلومولو لپاره باید دجنون ترحده دمطالعي شوقي وي - هغه ته پکار ده چي دخپل ولس په نبض ئي لاس ایښي وي ، دهغوي درد او ستونزي درك او پوښتني اوغوښتني ئي تشخیص کړاي شي . دمسایلو اهمیت او ارزښت در جه بندي کړاي شي . دقوي منطق ، روان ، جاندار اوپو - یاسبك خاوند وي ، معلمانه جذبه ولري اوپه داسي روحیه او احساس عمل وکړي چي غواړي ټولني ته خدمت کوي .

که څه هم یوه نشریه اوژورنالیست به دعلاقمندانو د پیدا کولو لپاره دخلکو ذوق او رجحان په پام کي نیسي ، خو ددي اصل په پام کي نیولو سره چي دوي به دخلکو دذوق او روحیي په میلان پسي نه خوځي بلکي دهغوي میلان ته به جهت ورکوي اورهنمائي کوي به ئي ،خپل تعهد وګڼي چي دانسان عظمت اوشرافت خوندي کول ئي اساسي وظیفه ده .

په همدي روحیه ځان دولسونو دحقوقو علمبردار وګڼي ، رغنده فعالیت تشویق اوحوصله افزائي یي وکړي ، په تشویش اوپریشاني کي دولسونو حوصله اومورال لوړ کړي ، په منفي بافي اود رواني عقدي په غوړولو خلك له ذهني انتشار اواضطراب سره مخامخ نکړي ، دخپلو معلوماتو په سموالي اوصحت باوري وي اودمهذبي ټولني داصولو اوسنتونو درناوي وکړي .

لکه څنګه چي باید مطبوعات دولسونو دآزادي اوانساني قدرونو دساتني بیرغونه یوسي همداسي باید په خپله مطبوعات هم آزاد وي ، آزادي اوحریت دانسان طبیعي حق دي ، خولکه څه ډول چي اسلام وائي څه پابندي ورسره لازمي ده ، هغه آزادي نه ده چي د نورو حق غصب کړي ، قومونه تباه کړي ، خاوره ئي په وینو ورنګوي ، استقلال ئي ختم کړي ، فاجعي ورته وزیږوي او په خوفناکو تر اژیدیوورته تمامه شي .

حتي امریکا چي دآزادي په مخ کي دهیڅ حد نه پیژندو او نه پریښودو په نوم مشهوره ده ، نماینده ئي په ۱۹٤۸کال کي په سویس کي دمطبوعاتو دآزادي په کنفرانس کي وائي چي : « .... په مطبوعاتو باندي لاندیني پابندي په غیر قانوني کتار کي نه راځي :

۱- له تحریري اوژبني هتك حرمت نه

دافرادو بچول .

۲- دفحاشي له نشر اواشاعت څخه دخلکو ساتل .

۳- له داخلي انتشاره دهیواد بچول .

٤- اوله خارجي یر غلیزه اقدامه دهیواد ژغورل .

دلته سړي ته دمعترضه جملي په توګه دظاهر شاه هغه خیانت وربه یادیږي چي هغو نشریوته یي اجازه ورکړي وه کومو چي زموږ دعقیدي اوملت په ضد جګړه اعلان کړي وه ظاهر خان هغو نشریو ته دنشر داجازي په ورکولو چي زموږ دقوم له نظریي ، اساسي حقوقو او استقلال سره ئي بر بنډ تضاد درلود دیوه نه بښل کیدونکي خیانت اوغداري مرتکب شو ، ددنیا .هیڅ قانون نه ایجابوي چي په یوه هیواد کـــي دي داسي نشریو ته اجازه ورکړه شي چي دملت نظریه ، خاوره ، خپلواکي او ملي نوامیس ترسوال اوتهدید لاندي واقع کوي ، اوبه غموونکو فاجعوئي اړوي ،آزادي حدود لري ، کله چي دبل چاپه حق دتجاوز پوله ړنګبږي آزادي خپل مفهوم له لاسه ورکوي ، خو کمونیستانو ته دآزادي ورکولو په اصل، عمل په هیڅ توګه نه رواکوله چي دیوه شل ملیوني ملت حق اوحیثیت دي دتجاوز او توهین ښکار شي . ګهیځ په ګولیو غلبیل غلبیل کیده خو تره کي اوبېرك دډیرو مهمو وګړو له اعزازه برخمن وو، داپرون چي دکمونیستانو له قلمونو کوم رنګ په کاغذ توئیده ، ددغو وینو د بهیدو مقدمه وه چي نن زموږ دګران وطن په هر غره اوسمه بهیږي اودادي لابهیږي .

یولیکوال لیکي چي « څومره چي یوه ژورنالیست آزاد فکر کولاي شي همدومره شجاع وي ، همدومره وقار لري ، همدومره له عقدي او جعل نه پاك وي او هموغومره دنورو وقار اوحیثیت ورته دروند وي ، آزادي لیکوال اوژونالیست له تقلید اوابتذا له لري کوي ، دابتکار، حرکت اواقدام قوت ورکوي . لکیوال اوژورنالیست باید په ټولنه دواکمني وضعي په وړاندي سرټیټ نکړي - بلکي دزور ، استبداد ، موهوماتو اوخرافاتو په مقابل کي دعصیان اوبغاوت جذبه او قوه ولري ».

هغه یو لیکوال چي دیر مقید اومحتاط روزل شوي او ویر یدونکي وي ،د فکر اوخیال له کورني مرغه سره تشبیه کوي چي لوړ پرواز نشي کولاي او په آثاروکي ئي دعالي فکر اوآزاد خیال نبني نښاني نه تر سترګو کیږي .

همدغه لیکوال زیاتوي چي چیري اندیښني ، نظریات اوتصورات لکه بندیان اوقیدیان په ذهن او دماغ کي ایساروي اودجرئت اوجسارت لاس اوپښي تړلي وي ، هلته لیکوال هم غلامانه حیثیت لري اولیك ئي حریت اوشهامت نشي ایجادولاي ؛ نو له همدي امله یو ژورنالیست او لیکوال دخپل رسالت دښه انجام لپاره داسي چاپیریال ته محتاج دي چي پکي دفکر اوعقل سترګي نه وي تړلي اودعقیدي ، ژبي اوقلم پښو ته ئي داسي زولني نه وي ورلویدلي .

دغه کوم شرطونه اوتکي چي موږ دیوه رسالت په توګه دژوورنالیزم لپاره یاد کړل تقریباً په ټوله نړي کي اصولاً اونظراً منل شوي دي البته داچي دعمل په ساحه کي څومره رعایت کیږي اوڅومره نه ، دابیله خبره ده .

یوپاکستاني مسلمان ژورنالیست عبدالسلام « زیني » لیکي : « غالباً د ۱۹۶۷ خبره ده دراولپنډي په مطبوعاتي کلوب کي ځینو ژورنالیستو دوستانو دژورنالیزم اوژورنالیستانو په رڼو اوتیارو اړخو خبري کولي ، ماعرض وکړ چي دلویدیزژورنالیزم داصولو له کټ مټ پیروي چي کومي وراني راپیدا شوي دي که موږ په شعوري توګه دژورنالیزم په اسلامي اصولو عمل وکړو نو ډیري اخلاقي خرابي لري کیداي شي ، اودمطبوعاتو له لاري په هیواد کي سوتره چاپیریال راپیدا کیداي شي ، یوه دوست ته زما خبره عجیبه ښکاره شوه اوسملاسي یي وویل چي دژورنالیزم له اسلام سره څه دي ؟... دي لیکي چي تردي وروسته زه پدي فکر کي شوم چي باید داسلام له نظره دژورنالیزم اومطبوعاتو اصول ترتیب کړم » سړي چي دهغه دژورنالیست ددي خبري په باب چي«

یوه ښه اوسرلوړي ژورنالیست ته چي واقعاً غواړي دا مسلك دیوه فکري رسالت اوټولنیز مأموریت په توګه پرمخ بوځي لازمه ده چي په زیاتو عمومي معلوماتوسنبال وي او باید کم تر کمه دژوند دټولو مهمو برخو دعلومو داساساتو او کلیاتو په باب معلومات ولري .

دژورنالیزم له اسلام سره څه دي ؟» سطحي فکرهم وکوي په څرګندو ټکیو کي ویلاي شي چي اصلاً یواځي اسلام دي چي هغه ژورنالیست اوهغه مطبوعات چي پاس ئي موږ ځانګړتیا وي وځیړلي جوړولاي اوټولني ته عرضه کولاي شي .

اصلاً بل هیڅ فکر اونظر ئي ته ممکن نده چي یو مهذب ژورنالیست اورسالت مند ژورنالیزم دي بشریت ته وړاندي کړاي شي .

مسلمان ژورنالیست په اسلام کي دژورنالیزم دارزښت په باب داروایت قوي ، ،منطقي ارشاد اووضاحت ګڼي چي رسول الله صلي الله علیه وسلم اوصحابه کرامو به دخپلي ټولني له حالاتو نه دځان خبرولو اهتمام ددي لپاره کاوه چي خبر شي ، دمظلوم فریادته درسیدو ، دناروغ دعیادت ، دکمزورو دمرستي اودمحتاجو دلاس نیوي لپاره هر ډول مادي او روحاني وسیلي استعمال شي که دمادي مرستي قدرت نه وکم ترکمه په دعائي ځان په غم ورګډ کړي . همدارنګه له دي آیت نه « کنتم خیرٌ امةٍ اخرجت للناس تامرون بالمعروف وتنهون عن المنکر وتؤمنون بالله» ددي ښه اورسا پیغام اوالهام اخیستل کیږي چي دژورنالیست هدف اورسالت څه دي .

همداراز الله «ج» فرمائي :" ولتکن منکم امة یدعون الي الخیر ویامرون بالمعروف وینهون عن المنکر ط واولئك هم المفلحون / آل عمران -۱۰٤ "

د بقره په ۲۸۳ آیت کي فرمائي « دحق اوشهادت کتمان به نه کوي اوشهادت به هیڅکله نه پټوي څوك چي شهادت پټوي زړه ئي په ګناهلي دي، اوالله ستاسي له اعمالو بي خبره ندي ».

دسورة النساد په ۸۵ آیت کي فرمائي :

«څوك چي دنیکي سفارش کوي ، هغه به پکي خپله برخه ومومي اوڅوك چي دبدي سپارښت کوي هغه به په دي کي خپله برخه ترلاسه کړي »

په سورة العصر کي فرمائي :« او یو بل ته دحق نصیحت اودخیر تلقین وکړي »دسورة احزاب په ۷۰ام آیت کښي ارشاد دي :

« اي هغو کسانو چي ایمان مو راوړي له خدایه وویریږي اوسمه صافه خبره کوي .. »

دسوره النحل په ۱۳۵نمبر آیت کښي فرمایي« دخپل رب لاري ته په حکمت اوغوره نصحیت بلنه ورکره اوله خلکو سره په داسي طریقه مباحثه وکره چي تر تولو غوره وي .. »

دپیغمبر اسلام ارشاد دي چي تر ټولو لوي جهاد دظالم حکمران په وړاندي دانصاف یاحق خبره کول دي .

اسلام داستبداد ډیر شدید مخالف دي یو عالم وائي چي اسلامي فکر اصلاً په اساس کي انتقاد او رشد دي که انتقاد په رشد منتج نشي خبره اعتراض ته رسیږي . مسلمان رهبرکه مستبد نه وي حتماً به په مستمره توګه د چون اوچرا له ازموینتونو تیریږي . دهمدي ازموینتونو ویره ده چي په اسلامي ټولنو کي زیاتره استبداد واکمنیږي ځکه همیشه انتقاد اوانتقادوي هغه هم له قیادت نه، قیادت به یا په خپل مرشدانه عمل اوروش دي انتقادونو ته معقول ځواب وائي او یا به داسلام اوقرآن په ځاي زورواکمنوي . دي وائي له همدي امله ده چي کله عبدالمالك واوریدل چي خلیفه شوي قرآن شریف ئي تلاوت کاوه هغه ئي وتاړه اوپه خطاب کي ئي ورته وویل چي نور زه اوته سره جلا شوو .

> ظاهر خان هغو نشریو ته دنشر داجازي په ورکولو چي زموږ دقوم له نظریي ، اساسي حقوقو او استقلال سره ئي بر بنډ تضاد درلود دیوه نه بښل کیدونکي خیانت اوغداري مرتکب شو

دسیاسي جبر اواستبداد نظامونه سانسور غواړي خو اسلام دسانسور اواختناق خلاف دي قرآن عظیم الشان فرمائي : (والذین اجتنبو الطاغوت ان یعبدو ها وانا بواالي الله الهیم البشر فبشر عباد الذین یستمعون القول یتبعون احسنه ...« الخ »)

هغو کسانو ته چي دطاغوت له بندګي څخه ډډه کوي اودالله لوري ته ورګرځي ، زیري دي ، هغو بنده ګانو ته زیري ورکړي چي خبري اوري او دنیکي ئي پیروي کوي .له همدي څو مختصرو خبرو جوتیږي چي که مطبوعات او ژورنالیزم داسلام له مخي عیار اورهبري شي ، په یوه مقدس رسالت بدلیږي چي دیوي مهذبي ټولني اوشرافتمني نړي به جوړیدو کي لوي نقش تر سره کولاي شي.

آیا ژورنالیزم او ادب یو شي دي ؟

پدي وخت کي دادب او ژورنالیزم تر

څنګ واضح فرق دي . دافرق منل شوي دي خو پخواادب اوژورنالیزم یوشي بلل کیدل اوس ځیني وائي چي دلوړي پوړي ادب اولوړي سطحي ژورنالیزم سره توپیر نلري ، دواړه تل یو دول ارزښتونه اواقدار لري ، ددوارو محرک احساسات ، جذبات اومشاهدات دي . دواړه یو بنیادي ارزښت لري ، ژورنالیزم دزماني اوټولني عکاس دي اودخپل دوران تاریخ بلل کیږي دلوړي سطحي دادب یوه خوبي هم همداوي که په هغوکي دعصر اوزماني روح نه وي ، کوم ځانګړي مقام نشي حاصلولاي .

معیاري ژورنالیزم دانسانانو په مسایلو اومعاملاتو دپوهیدو اونوروته دپوهي ورکولو دزیار نوم دي - دلوړ ژورنالیزم مقصد انسانیت ته خدمت دي دانسان په درد دردیږي ، په ویرني ژاړي په وینو ئي اوښکي توبوي اوپه نیمګرغي ئي دخوشالي ډیوي بلوي ، مطبوعات دستونزو حل په ګوته کوي ، عوام اوحکام دواړه رهنمائي کوي ،اودلوړي سطحي ادب هم عیني کار کول غواړي ، ادیب په یوه بیل انداز دټولني بدلون او له خپل تصور سره سم دهغي جوړیدل خپله آرزوګڼي .

معیاري مطبوعات دظلم ، بي انصافي اواستثمار خاتمه اودلوړو انساني ارزښتونو ترویج خپل رسالت بولي ،معیاري ادبُ هم په یوه بدل روش دهمدي مقصد دتر لاسه کـولو هاند کوي .

خوددي ګډ وقدرنو او ارزښتونو له شتوالي سره سره پکي فرق شته ، په مطبوعاتو کي واقعیت اساسي اهمیت لري یعني په اخباروکي چي څه چاپیږي دهغوي صحت ضروري دي .

خبرونه به صحیح وي ، تبصري به په واقعیتونو ولاړي ، بي لوثه اودیانتدارانه وي معلومات به له نوم ، اِحصائي اندازي اونورو لازمو مشخصاتو سره ملګري وي یا په بله ژبه داسي ویلاي شو چي په ژورنالیزم کي دپیښو واقعیت اوصحت لازمي دي خو په ادب کي دواقعیت شتوالي لازمي ندي . داحتمي نده چي په افسانه ډرامه یاناول کي کوم واقعیت وړاندي کیږي ، هغه دي واقعاً موجود وي په دي ډول په ادب کي دواقعیت قید نشته خو داضروري ده چي په هیڅ توګه به غیر فطري رنګ نلري دادب یو بل صورت یعني شاعر ي هم همداسي ده دا حتمي نده چي شاعر څه وائي دهغه بنسټ دي پر واقعیت ولاړوي ، شاعر دتصوراتو اوافکارو په ترتیب هم مکلف ندي ، مګر په ژورنالیزم کي نه مبالغه شته اونه بي ترتیبي ، یوبل فرق دادي چي ژور نالیست دیوي پیښي په وړاندي کولو اوبیان کي خپل احساس اوتاثرونه ورګډ وي خو ادیب چي کومه پیښه دخپل تخلیق موضوع نیسي داوائي چي ده داډول یا هغه ډول محسوسه کړه ، بلة دا چي په ژورنالیزم کي دپیښي نو یوالي او هنګامیت اساسي شرط دي .

دمطبوعاتو ژبه :

دمطبوعاتو دژبي لپاره لنډیزاوښکلا اساسي شرطونه دي ، له دي پرته موثر ابلاغ او اخبار ممکن ندي داعلمي خبره ده چي تر ټولو زیات علم تر ټولو په زیاته سادګي کي موندل کیږي اواصلاً لوي شي هغه وي چي فطري اوآسانه وي - دژبي معني ابلاغ یعني ویل دي ، که الفاظ او ترکیبو نه دلوستونکي یااوریدونکي توجه خپل ځان ته ورجذبه کړي اوذهن دمفهوم اوپیغام په لوري ولاړنشي نوپه حقیقت کي دژبي داستعمال مقصد ندي پوره شوي ،په یوه لیکنه کي د سلاست ، اختصار اووضاحت صفتونه هغه وخت رامنځ ته کیږي چي روان الفاظ اولنډي جملي استعمال شي .

هر تعلیم یافته سړي یو څه لیکلاي شي خو صحیح ، آسانه اوموثره لیکنه یواځي دباکمالو خلکو ، په سلیسه اوروانه ژبه لیکل آسانه نه بلکي ډیر ګران کاردي .

ښه لیکنه په تخصص او مسلکیت پوري مشروطه نده ، بلکي دا بیل شرایط اوځانګړي قریحه اومطالعه غواړي ، یو امریکائي پوه تردي عنوان لاندي چي پر وفیسوران ولي لیکوالان ندي په دي برخه کي په زړه پوري څیړنه لري هغه وائي چي کیداي شي یو پروفیسور ګرامر ، نتطه ګذاري اوځه نوري تخنیکي چاري ښي اداکړي ، مګر لیکنه به ئي ستومانوونکي ، غوټه شوي او په لغاتو اواملائي شکیلاتو کي ورکه وي هغوي ته دا مهمه نده چي څوک ئي په خبره پوه شي .

متأسفانه زمور دټولني علمي سطح دومره ټیټه ده چي کله کله هغي لیکنې ته چي اصلاً غوټه غوټه وي ، شنیع تکرار لري ، نامانوس ترکیبونه لري ، دلوستوپه وخت کي داسي فکر کوي لکه په خټه کي یي چي پښني ننوتځي هدف پکي ورک وي ، دمنطقي ارتباط ادبي تخیل او ژورنالیستک سلاست او ګویاتوب پکي درک نه وي ، دیته ډیره لوړه اوقوي لیکنه وائي او لیکوال ئي هم په ډیر افتخار وائي چي

پلاني سړي راته وويل چي باور وکړه هغه مقاله دي دومره په لوړه سطح ليکلې وه چي درې واري مي ولوسته بيائي هم په لوري ونه پوهيدم،په داسي حال کي چي دي بايد پدې خبره خپه شواي واي بهتر ينه ليکنه هغه ده چي لنډه او مدلله وي ، ديوې معياري ليکني کمال دادې چي لوستونکي هغسې پرې پوهيږي ، څه ډرچي ليکونکي دهغه پوهول غواړي ، خوزمونږ. ددې خبرو معنې دانه ده چي په ژورناليزم کي يواځې منطق اواستدلال دې او احساسات اوجذبات بيخي له پامه غورځول کيږي ، حقيقت دادې چي کله کله جذباتي ، احساساتي اوعاطفي ليکني هغه اثر غورځولای شي چي هيڅ تحليل اواستدلال ئي نشي کولای . خو چي ادبي تخليق اوهنر پکي په ښه مهارت کاريدلې وي ، مثلاً که مونږ وليکو چي «.... آيا په وطن کي مو دکمونيستانو له لاسه دوينو جوړ ډندو نه غيرت نه راپاروي ، آيا دوطن په سمه اوغره کي مودشهيدانو دهديرو سري جنډې مړاحساس نه راتوپاني کوي ، آيا دمليونو يتيمانو ، پلار مريو ، ورارواو بورو ميندو له وينو ډکي ښترګي ، سوې سلګي او ترمي اوسکي موږه تن دشور اوناکراري لړزه نه ګڼوي ، ايا دبي ننګه کمونيستانو په لاسو دپامال شويو زرګونو عفتونو اوخاوري شويو لکونو ځوانيوويږ مو دزړه تړلي دروازې نه دړتکوي ...» شايد تردې مدللي د هغې تحليلي مقالې اثر زيات وي چي غواړو له نجيب سره ديوه جهادي لوري دروغي جوړې غوښتني سياست محکوم کړو.

همداراز اوس کله کله په اوږدو رپوټونو کي چي دتحليل اومشاهدې رنګ هم پرې ګڼوي دادب ژبه استعماليږي ؛ خو په يوه ځانګړي خوش انتخابي داسي چي دواقعيتونو واقعيت متأثر نکړي .

مثلاً يو ژورناليست ديوه چا دمرګ اوخاورته سپارولو رپوټ داسي پيلوي : «... يو لمر په افق کي پريووت اوبل دمځکي تل ته په ډوبيدو .»

اوهماغه ليکوال ديوې مارشلا دراتلو ګزارش داسي پاي ته رسوي «... دشپي په دريو بجو پلاني تيلفون وکړ ، صدراعظم ته ئي وويل : صيب وامي وريدل چي ... اوبيا تليفون وشليد ، او دجنرالانو شپه شروع شوه ...» اوحتي په سرمقالو کي همدا ډول تخنيك او داوږدومرکو په رااخيستو کي هم په کاريږي ، لکه دپاکستان مايه ناز ژورناليست الطاف حسين قريشي چي پدې برخه کي ځانګړي اسلوب لري ،هغه ديو مرکي ترپيل دمخه ليکي :«.... مافکر کاوه چي هغه به زما لپاره څه وروخت پيدا کړي پداسي حال کي چي زه نه کوم خوش رنګه ترانه لرم ، نه دګلانو غوندي خوش رنګه الفاظ نه هم زړه تازه کونکي اعداد او شمار .

حکمران چي څومره هم ښه شي دهغه دژوند رګ ته نشتر دروړل دقلم اوکاغذ دخاوند غوره مشغولاده ...»

يا داچي :«... ما په ډير حسرت سرحدي کلا مطالعه کړه ، هغه چي يو ځانګړي تاريخ لري په هغو کي تاريخ ساز شخصيتونه اوسيدل - اوس هغه ماڼي له خاورو سره برابر يدونکي ده څومره يادونه به ورسره خاوري شي ، او څومره خاطري به ورسره دخاورو دميلمني شي ، دنويو ماڼيو په تاداوکي به څومره نوي افساني جوړي شي ...»

ياليکي چي «....زما په ذهن کي لا دوه درې پوښتني روغي رمټي ګرزيدې ، خان صاحب ، په وارو ګړي ته کتل مګر څيره ئي ديوه سمندر په شان ادامه وه مادار تغاش پيدا کيدو لپاره يو کاڼي ورغورځاوه ...»

يا په يوه سرمقاله کي ليکي :«... دقومونو اوافراد و په ژوند کي چلنجونه څې اوراځي ، تاريخ ليدلي چي څني شخصيتونه مځکي له وخته دايرو ډيري شول ، اوبعضي قومونه دهستي له تختي کوچ شول ،داقتدار هغه ماڼي

مسلمان ژورناليست په اسلام کي دژورناليزم دارزښت په باب داروايت قوي ،منطقي ارشاد اووضاحت ګڼي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوصحابه کرامو به دخپلې ټولني له حالاتو نه دځان خبرولو اهتمام ددې لپاره کاوه چي خبر شي ، دمظلوم فريادته درسيدو ، دناروغ دعيادت ، دکمزورو دمرستي اودمحتاجو دلاس نيوي لپاره هر دول مادي او روحاني وسيلي استعمال شي که دمادي مرستي قدرت نه وکم ترکمه په دعائي ځان په غم ورګډ کړي

چي دځلو په ديوالو ولاړي وي اخير دمځکي مخ ښکلولي ، اوهغه رهبر چي دالفاظو په جادو په خلکو مسلطيږي ، دآزموينښت سيلاب ئي دځگ په شان ورسره اخلي اوهغه پلان ساز چي دواقعيتونو دځوکوپه وهلو کي مور- چي جوړوي خپل غوړوونه اوسترگي خلاصي اوسيني غوړيدلي پريږدي ، خپل قوم له توپانو بچوي اودترقي اوخوشالي دشاهراه په قافله ئي ورگډوي ... »

دژبي په برخه کي يوه بله ستونزه داده چي استعمار کوشش کوي چي زمونږ دژبو په نسبت دحقارت احساس راپيدا کړي دا دوه د وله اثرلري يا داچي زموږځني وګړي ياپه خپله ژبه باندي په خبرو اوليکلو شرميږي اوپه پرديو ژبو خبرو ته ترجيح ورکوي اويا به خپله ژبه کي پردي ژبه دومره راگډه کړي چي ژبه خپل هويت وبايلي ، يائي اثر تفريطي وي پدي معني چي دخپلي ژبي داسي سوچه کولو ته ملا وړهي چي سپيره سپوره ئي ودروي ، محدوده شي اوبالاخره دوچيدو او دمړي کيدو په لوري يوي ميلي ته منتظره وي ،داهم ليکني بدخونده کوي او هم دپيغام وړاندي کول اودمقصد افاده له مشکلاتو سره مخامخوي .په کابل کي چي «مجاوراحمدزيار» پدي روحيه کوم کار پيل کړي و او دبي، بي، سي بناغلي« اکبر» ادامه ورکوي داله پښتو ژبي سره لوي ظلم دي ، هره ژبه چي له عوامو سره رابطه وشلوي اودخواصو په حلقه پوري محدوده شي اصلاً دتاريخ له سيره غورځي اوژوندي نشي پاتي کيداي .

هغه څه چي بايد دژورناليزم په ژبه کي نه وي :

١- حاشيه اوزوايد ، يعني غير ضروري الفاظ هغه چي له استعماله ئي پرته هم مفهوم اداکيدي شي ،

٢- دخبري بي ضرورته اوږدول ،

٣- اوږدي اوپيچلي جملي چي مفهوم ته درسيدو په لارکي پيچومي اوختهونه جوړوي ،

٤- دنا مأنو سوالفاظو استعمال لکه دچراغ په ځاي قنديل ، دليکني په ځاي مرقومه ،د ارجمند په ځاي (افخم) ، اوداسي نور .

معياري مطبوعات دظلم ، بي انصافي اواستثمار خاتمه اودلوړو انساني ارزښتونو ترويج خپل رسالت بولي ،معياري ادب هم په يوه بدل روش دهمدي مقصد دتر لاسه کولو هاند کوي .

٥- مترادفات : که څه هم سل په سلو کي يوه معني نلري خو ډير سره نژدي وي لکه الفت ، محبت ، عشق ، البته په ادبي مقالو اوليکنو کي کيداي شي په معني اومفهوم باندي دزور راوړلو لپاره مترادفات په ښه توگه استعمال شي ، مثلاً دا دحق اوباطل مقابله ده دادحقيقت او دروغو جگړه ده ، دادنور او تروږ مي معرکه ده ، دادکذب اوصداقت اخ وډب دي .

٦- تعقيد : لغوي معني ئي غوټه پيداکول دي ، ددي ستونزه داده چي مفهوم ته دورتلر اورسيدو په لارکي سړي ته ختهونه جوړ وي .

٧- تکرار : په وار وار ديوي خبري کول ، البته په نوي برته نوي طرز او قالب کي دخبري دمحوراو ماهيت بيا بيا تکرار ناگزيرخه چي حتمي دي .

٨- مشکل اوپيچلي ترکيبونه : کيداي شي له نامانو سو الفاظو جوړشي خو کله له ساده کلمو هم جوړيږي .

٩- ځيني اصطلاحات کيداي شي ښه متعالي مفهوم هم ولري خو ډير زيات استعمال له امله مأنوس کيږي اوخوند له لاسه ورکوي، بايد په نويو اصطلاحاتو عوض شي لکه داعمالو په جزاء رسول ، دتاريخ کندي ته غورځول ، ژغورنده پاځون ، غابښ ماتونکي گوزار.

ماغوښتل چي داسلامي انقلاب ددوري په مطبوعاتو هر اړخيزبحث وکړاي شم اودحالتو دشرايطو له بهير او بدلون سره ئي دروش ، رنگ اوبڼي په بدلون خبري وکړم ، دي زما لپاره څه ډير خاص مشکلات هم نه درلودل ځکه چي زه له ډير نژدي زمونږ دمطبوعاتي وضعي شاهدوم مگر متأسفانه دي بحث ته چي رارسيدم خبره کافي اوږده شوي وه له دي امله مي مجبوراً په اختصار اکتفاء وکړه .

لنده کیسه

داوښکو په څاڅکوکي

لویه حویلي وه چې ډیري کوټې یې درلودې ، خو کله کله به بیروبار دومره پکې زیات شو چې په دهلیزکې به هم خلك ویده کیدل ، دحویلي ختیځ لوري ته یو وړوکي چمن ؤ چې مازدیګر مهال به ډیر کسان ورته راوتلي وو ، هلته به مدام دري څلور دګوډانو بایسکلونه هم ولاړ وو او شوټ ، شل بنیادمان به پکې ناست وو دمعیوبینو حویلي وه اودلته به دزور دحاوندانو له لاسه به باروتو او اوسپنو مسخه شوي بنیادمان راتلل ، تل به پکې همدغسې بې لاسو اوبې پښو سپین ږیري ، ځوانان او آن تنکي ماشومان پراته وو .

دلته به ډیري کیسې اوریدې شوې ، په هر کونج کې به دري څلور تنه سره راټول وو اوله یوبل نه به یې پوښتنې کولې :

ته څنګه ټپي شوې ؟

ستا پښه په څه ډول پیښه کې غوڅه شوه ؟

ستا په لاسو څه وشول ؟

ستاسترګې!......

اوبیا به دیوه تن په کیسه نور ټول غوږ غوږ وو ، دلته به مدام دوینو او اورنو کیسې وې ، دځوانیو درژیدو اوژوبلیدو نکلونه وو ، دغوښو اوباروتو دتکرداستانونه وو.

ددې حویلي له هر یوه سره کیسې وې ، په پنډونو پنډونو کیسې ، چې څنګه یې دځواني ګلان دټوپان په څپو کې وړژیدل ، څنګه یې لاس ...پښه ، سترګې او نـــور اندامـــونه ګوډمات شول ؟!!

چابه دخړوالوتکو بمباري یادوله ، چابه دکمین او غلچکي برید نه سرټکاوه اوکوم بختور به دمخامخ مقابلې تودې کیسې کولې .

په دغه حویلي کې سید ګل بابا هم ؤ شیرین جان هم ، سلیمان جان او امام الدین هم ، دهر چاځانګړې ځانګړې کیسې وې ،

سید ګل بابا د ۸۰ یا ۹۰ کلونو بوډا ؤ چې یوه پښه یې په بمباري کې بمونو الوزولې وه ، هغه چې څومره په ظاهري بڼه کنداو کپر اوځپل شوي ؤ هومره یې زړه هم پرهرونه خوړلي وو ، دکورني ۷ کسه یې داسې تر خاورو لاندې ورك شوي وو چې هغه یې جنازې هم نه وې لیدلې .

شیرین جان بیاد ۲۵ - ۳۰ کلونو په شاوخواکې زلمی ؤ چې پښه اویوه سترګه یې دټوپ مرمۍ الوزولې وې .

اوسلیمان جان خو اوس ایله داوو یا اتو کلونو ؤ دهغه هم یو لاس ، لاندې زامه اویوه سترګه بې درکه وو ، همدغه ماشوم ته هم دنني تمدن لنډ غروپه بد نظر کتل ، کوچنې موټرېې ورته له باروتو پرسولې ؤ ..

او په همدغه حویلي کې امام الدین مامام هم اوسیده ، خو امام الدین یوازېنې سړې ؤ چې چاې دغوځې پښې اوترچپې سترګې لاندې دتپ کیسه نه وه اوریدلې ، هغه ډیر چوپ ، پریشانه او تریوه حده پوري په یوازیتوب خوښ ؤ ، تل به چیرته یوازې ناست ؤ ، سربه یې ښکته اچولې ؤ ، لکه په ژوروسوچونو کې چې دوب وي .

له هر چاسره یې برخورد او روغبړ په ډیر ورین تندي او مهربانه لهجه ؤ خویوازې دمعمول سلام اوروغبړترحده ، ډیري خبري یې نه خوښیدې، خبرې یې کولې هم نه دبل کیسه یې هم تر پایه نشواې اوریداې ، چې چابه خپله دلاس ،پښې اویا نور بدن د ټپي کیدو کیسه کوله نو چې کله به خبره تردرز اودروزه یا بمباري پوري ورسیده دامام الدین سترګې به دسکروټو په شان سرې شوې ،خوله به یې ورانه ورانه شوه ، خپل تکك به یې ترښې تخرګ لاندې کړ ،له مجلسه به وتو ته چمتو شو :

تاسو بختور یاست

په خداې «ج» آرمان مه کوې ! بختور یاست بختورو!

دابه یې وویل او په یوه ټوپ به له مجلسه ووت ، بیا به چیرته یوازې سرپه زنګون ناست ؤو ډیر پریشانه اوډیر خفه .

امام الدین دنسبتاً میانه ونې اوغښتلو

مېږو خاوند ؤ ، عمر به يې دڅلوېښتو کلونو په شاوخواکي ؤ ، دمخ په غېته کاسه کي يې دوي توري اوراښکونکي سترگي وي چي کله کله به لکه دوينو پيالي تکي سري اوښتي وي ، دزېري په رنگړيو ويښتانو کي يې ټويو تارسپين شوي ؤ خولايي په وجود کي دځواني شيمه پاتي وه ، پلن مړوندونه ئي و خوبني پښه يې بيا په ورانه کي غوڅه وه، امام الدين ته به دهرچاډېر زر وربام شو هغه به زيات وخت يوازي چېرته ناست ؤ سربه يې په گريوان کي ښکته اچولي ؤ اوپه ژورو چورتونو کي به ډوب ؤ .

له هغه نه هم هر چا دخپلي پښې او مخ دتپ پوښتنه کړي وه خو هغه به په ځواب کي هرچاته يوازي يو ځواب ورکاوه ؛ بس همدغه دده لومړي او وروستي ځواب ؤ چي چابه تري وپوښتل دده په زړه به دغه پوښتنه ديوه تيره اغزي په څير ځوروونکي ولگيده خوده به ظاهر آ په خندا نه خوله همدغه يو ځواب درلود :

بس لکه ستاسو غوندي ، بمبارد ممبارډؤ ، همدغه دکفاروله لاسه ...»

نور به ئي هيڅ نه ويل ، دي به دخلکو دپوښتني په مراد ښه پوهيده چي له ده نه کيسه غواړي ، دهغي حادثي کيسه چي خپله پښه يي له لاسه پکي ورکړي وه اوترعمره دبل لاس ته محتاج پاتي شوي ؤ ، خودده همدغه يوازيني مختصر ځواب ؤ چي دغه ځواب به دټولو په زړونو کي دهغه کيسي ته تلوسي راوپارولي ، زمونږ په زړونوکي به دهغي کيسي په باب ډول ډول تصور پيدا شو چي دامام الدين پښه پکي له منځه تللي وه ، په زړونو کي به راگرځيدل چي په دغه پيښه کي خامخايو مهم راز شته ، داسي راز چي امام الدين يي افشاکول نه غواړي دهغه چوپي خولي به په خپله خاموشي کي هم مورته بلنه راکوله چي راشي زما کيسه واوري ، ددردونو کيسه مي واوري .

خودغه راز تر ډيره وخته همداسي ناسپړلي پاتي شو ، هيڅ چا هم دا جرئت نه شو کولي چي امام الدين خپلي کيسي ته مجبور کړي ، شپې ورځي يوپربل دپاسه داسي انباريدي لکه دتاريخ پر پاڼو حادثي ، اويا دهندوکش په څوکو دواورو پاغونډي اويا لکه زمونږ دولس پرسر دغمونو پيټي .

دحويلي اوسيدونکي وخت په وخت بدليدل ، هيڅوک هم تر دوو دريو مياشتو زيات نه پائيدل ، هره ورځ به څوتنه رخصتيدل اوهمدومره به نور راتلل دحويلي سپين امبولانس به دورځي يو دوه خله ووت اوبيرته به راته چي کله به دهغه مخصوص هارن غږ اوچت شو نو دحويلي په انگړ کي به ټول دهغه استقبال ته راووتل ، تابه ويل په دي مکلف دي چي خامخا ددغه هارن له غږ سره راووزي ،بيابه يو څوتنه وروړاندي شول ،نوي ميلمانه به ئي را ښکته کړل نوي مسخه شوي بنيادمان- دزوروړو ، دزوروونو کرشمو ځپلي بنيادمان . حويلي ته به نوي نوي کسان راغلل ، همدغه بهيرروان ؤ همدغسي نيمگړي کسان به راتلل دچا به لاس اوچابه پښې نه وي ، څوک به دسترگوله نعمت نه محروم وو، حادثو به خوړلي وي ، نوي نوي کيسي به مو اوريدي ، له نويو حادثو به خبر شوودوينو او اوروونو له حادثو نه... خوامام الدين لا دخپلي کيسي په باب په خوله د سکوت مهر لگولي ؤ .

يوه ورځ هغه ته داسي دري تنه پيژندوي راغلل ، تر ښه ځنډه ورسره پاتي شول لږ وروسته په حويلي کي آوازه خپره شوه چي امام الدين سباته وطن ته ځي ، مونږ وليد چي خفه ؤ ، داهم مونږ ته عجيبه ښکاره شوه ، ټول خلک به چي خپل کور کلي ته تلل خوښ به وو خو امام الدين بيا خوښ نه ؤ ، په څيره کي يي دخفگان اوانديښـــــني علامي له ورايه ښکاريدلي ،

امام الدين دحويلي له انديوالانونه دوطن ته تگ را زيبت نه کړ ، له هر چا سره به چي مخامخ شو په مينه مينه به يي ورته وويل:

زه له خيره سبا ته ځم ، سباته وطن ته ځم !

ماته بخشش وکړي ، ډير ښه ژوند موسره تير کړ ، مرگ اومردن دي اوس به بخشش راته کوي .

هغه له ماسره دمخامخ کيدو سره سم همداسي راته وويل ، له مانه يي هم بخشش وغوښت ما په ډيره تلوسه ورته وويل :

امام الدين ماما !

هغه چي ماته وکتل زما په سترگو کي يي پوښتني ولوستلي ، وپوهيده چي زه څه غوارم بيله دي چي خپله پوښتنه وکړم هغه کيڼ لاس راځخه تاوکړ زه يي کلك په غيږ کي ونيولم بيا يي راته وويل :

راځه دلته کينه ! ته به فکر کوي چي له ماسره به ډيره مهمه کيسه وي ؟

بيايي سروښوراوه زياته يي کړه!

هم مهمه ده اوهم نه !

زما هم همداسي کيسه ده ، عيني لکه دانورو غوندي لاس يي دحويلي په چمن کي پرناستوکسانو راتاوکړ .

راشه غوږ شه ، زه نن کيسه درته وکړم ، راشه نن ددي حويلي دترټولو بدمرغه انسان کيسي واوره ! ته به وايي زما کيسه به ددي نورو غوندي وي ! نه هغوي ډير بختور دي ،

زه اوامام الدين د اکاسي دوني لاندي کيناستلو هغه ماته مخامخ داکاسي وني ته ډډه ووهله خپل تکك يي تر څنگ کيښود کيڼه پښه يي اوږده وغځوله بيايي سترگي زما پر سترگو راخښني

کړي :

..... هغوي خو ورياندي وياړي ، په همدي خيرو به دخداي «ج» په حضور کي دريږي اوخپل بدل به غواړي ، همدغي ماتي پښني او ژوبل هدونه به يي شفاعت کوي .

خوزه ....

اوبيا چوپ شو ښکته يي خپل گريوان ته وکتل ،

ماته يي له خبرونه څه بل ډول شك پيدا شو ، په زړه کي مي تيره شوه چي امام الدين ماما ښايي دحکومت سړي وي ، دده پخواني چوپتيا اواوسني خبري کټ مټ همداسي وي چي هغه به مليشه ؤ يا به سم سيده عسکرو ، يوځل مي دهغه په باب په زړه کي دکرکي اونفرت احساس غزوني وکړي خو دهغه دنيمي شپي لمونځونو ژړا ، زاري ، دخداي «ج» په دربارکي عجز چي راپه ياد شول بيرته دغه کرکه ورکه شوه ، هغه به له حکومت او کفارو نه دير سرهم ټکاوه نو دابيا ديره دحيراني وړوه زما په غوږ وکي دهغه وروستي خبره کړنگيدله هغوي به به همدغو خيرو دخداي «ج» په حضور کي دريږي ، همدغه مات هدونه به يي شفاعت کوي خوزه ....

امامالدين بيا په خبرو خوله خلاصه کړه :

هو ! زما به که همدغه په ورانه کي غوښه پښه دغاري طوق نه وي نو ورياندې شرمنده به ضروروم .

دهغه دي خبري زما شك په يقين بدل کړ نوزما داگنيله چي هغه خامخادحکومت پلوي ؤ ، پښه يي دمجاهدينو له لاسه له منځه تللي، نور نو په دې کي شك څه په کار ؤ ، زما په زړه کي يوځل بيا دهغه په باب دکرکي اونفرت احساس زور ونيو ، نور يي خيره ماته ډيره بدرنگه ښکاره شوه ، هغه يو ډول معصوميت چي پخوا به ورياندي ښکاره کيدو نور ماته دگناهونو

اوبغاوت پردي ښکاريدي نو مي په جرئت تري وپوښتل :

ته لکه چي دحکومت سړي وي !

په دغه خبره دهغه په خيره دغوسي يوه څپه راغله ، سريي دنه په ځاي وښوراوه دواړه لاسونه يي غوږ ونو ته يووړل :

نه اندا توبه مي دي وي خداي «ج» مي دي له داسي پستي نه وساتي . ځواب يي سوچه ؤ ، دشك ځاي پکي پاتي نه شو نو ځکه زه لا حيران شوم ، فکر مي کارنه کاوه ، نه پوهيدم څه اورم داامام الدين کيسه راته معما شوه ، هغه دحکومت پلوي هم نه ؤ، خوپه خپل تيپي کيدو شرمنده ؤ ، نوماډير زر ورته وويل : نو څه کيسه ده ؟ داستا خوعجيبه کيسه ده امام الدين ماما!

هغه زه په اوږه وټپولم :

په مادومره بدگوماني هم مه کوه ، زه دحکومت سړي نه وم ، په همغه لومړي کال مي دغزا ټوپك په اوږه کړي دي ، زما کيسه بيله ده .

بيا چوپ شو . يوځل ببايي غټي غټي توري سترگي سري سري واوښتي ، تکي سري لکه د وينو پيالي ، ورو ورو يي دسترگو په منځ کي داوښکو ځاځکي وځليدل او بيادغه ځاځکي دهغه په غټو پلنو بارخو گانو راوبهيدل ، خودهغه په زړه کي چي کوم اوربل ؤ ، هغه په دي ځاځکو سوړ نه شو ، داسي ښکاريده چي نورهم ژيغراند شو ، امام الدين ماما چوپ ؤ ، څوداوښکو هر ځاځکي اودشوتي بوتي پښني هررگ اوهر سلول يي ډيري کيسي ويلي ، ډيري ترخي ډيري دردوونکي چـي حس کـيداي شـوي خو اوريـدل کيداي نه، ...

له ښه څنډ وروسته يي سر په حسرت وښوراوه :

کاشکي زما دواړه لاسونه او دواړه پښني شوټ بوټ واي ، خوداسي نه واي يوځل يي غريو مات شو ، امام الدين

په ژړا شو اوبه ژړاکي يي وويل : زه پوه نه شوم ، عقل رانه پردي شو ي ؤ تر څوپوهيدم اوبه تروړخ تيري وي .

کاشکي دمخه مړ واي ....

ببايي ماته وکتل :

وارووره دبدمرغه انسان کيسه ! اووره زما بدمرغه کيسه

زه هك حيران وم دهغه دغه وضعيت ډير بي خونده کړم په خپله پوښتنه پيـــښمانه وم ، هغه ته ژړا وارنه ورکاوه :

زه به داد شرم نخبنه څنگه کوم ! په کوم کوم ځاي کي به يي پټوم خلك به دغزا اوشهادت کيسي کوي ، زه بدمرغه به څه وايم چـي پښه مي ولي داسي شوه ؟

ببايي ماته وکتل احساساتي غوندي شو :

ماخو ... ماخو په خپل وروړ پسي وسله رااخستي وه ، ماله خپلو ورونو سره دجگړي تکل کړي و ... زما بدمرغه پښه هم له خپلو ورونو سره په جگړه کي غوڅه شويده .

ترډي خبرو وروسته داسي چوپ شو لکه گونکي ، لږ شيبه وروسته په سلگوشو ، دغه وخت دامبولانس دهارن غږ اوچت شو ، موږ دحويلي اوسپنيزي دروازي ته وکتل ، ملازم دروازه خلاصه کړه امبولانس حويلي ته ننوت ، اوبيا لږ شيبه وروسته څلورتنه نور نيمگړي بنيادمان دحويلي په ميلمنو ورزيات شول امام الدين سترگي پاکي کړي ، هغوي خواته يي اشاره وکړه له غريوه ډك غږ يي اوچت شو : بختوران دي ، څومره جگ سرونه يي نيولي ، لاسونه اوپښني يي دخداي «ج» په لارکي قرباني شوي بختوران دي بختوران !

اوببايي سرپخپل گريوان کي ځوړند شو ، داسي ځوړند لکه خپل ځان يي دوجداني محاکمي ته سپارلي وي .

غازي که قاتل؟

څارنوال په خپله ګټه اواوږده شنا وي ږېره لاس را تير کړ !
- ښه کاردي نه دي کړي ،
پوه شوي کنه ! ته بايد قصاص شي ، تاسړي وژلي ، تاقتل کړي قتل !دهغه ځنګ ته ناست کس سروسنوراوه :
- ښه وايي صيب ، ډير بدکار يي کړي دي صيب .
بل تن چي زوړ پټکي يي به سرؤ خپل تور خيرن لاسونه ئي غوږوته يوړل خدايه توبه مي دي وي خدايه دخپل لاس له ګناه مووساتي .
- توبه وباسه زلميه تارښتيا هم ډير ناروا کړي .
دخپل پلار نوم دي ونه ساته ، خداي «ج» دي وبښي ځان يي په دين جار کړ .
خو دهغه په خوله يو خوږ تبسم خورشو ، تنکي ځوان ؤ په پاس شونډي يي اوس اوس نري دځواني سيوري پريوتلي ؤ په زنه يي يو غوړپ ږنګړي تارونه وو ، که په عمر لاتنکي ځوان ؤ خو پلن تندي پلنومړوندونو اوماهي ماهي متو يي دښه څواک اوقوي وجود شاهدي ويله .
هغه ته دمرګ برالا ګواښونه کيدل خو ده تندي ورياندي تريونه کړ پښي يي ونه لړزيدي ، لکه څوک چي ورسره ټوکي کوي هيڅ په خبره کي دغم اوخپګان اثر اونخښني راښکاره نه شوي ، پوښتونکو يوه تن بل ته مخ واړاوه : - څارنوال صاحب ! دوسيه به بشپړه کړو ...! دګټي ښناوي ږيري خاوند بيا سرو خو ځاوه:
- هوکي !
بوازي دومره يي وويل اوبيايي دځوان پڅ خبره، سترګي ورښخي کړي لږ شيبه په کوټه کي چوپتياحکم وچلاوه .
- بشيره! ولي چوپ يي !
هغه څارنوال ته وکتل يو ځل بيايي په شونډو همغه خوږ تبسم خور شو ورويي وويل :
- څه ووايم صيب !
- تاولي هغه وواژه ؟ تاولي خون وکړ ؟ ددي ځواب غواړم !
دبشير له شونډو نه دموسکا څپه ورکه شو لاندي يي ټغرته وکتل په ګوتو يي دټغر توري اوسپيني ليکي سره وګرولي اوبه څه ژورچورت کي ډوب شو ،
دڅارنوال غږ چي داځل پکي لږ رعب اودبدبه هم احساسيدله بيا جګ شو :
- بشيره ! موږ نور کارونه لرو ، وزګار نه يو هغه لږ ټغرنه سترګي پورته کړي څارنوال ته يي وکتل داځل يي په شونډو موسکانه وه لږ جدي غوندي ښکاره کيده :
- له مانه څه غواړي ؟
- هن ما څه درته وويل وادي نه وريدل؟ بيايي ورپسي سمدستي وويل:
-.عزيز دي ولي وواژه؟
دڅارنوال ځنګ ته ناست کس په بريتو کي وخندل په پسخنديي وويل :
- هن سړي يي وژلي دي او دنرزوي داسي بي غمه ناست دي ته به وائي ګل يي نه دي شکولي .
بشير هغه ته وکتل خو هيڅ يي ونه ويل بيا يي هم په ټغر سترګي وګنډلي خودڅارانوال غږ بيا دچوپتيا په قلمرو يرغل ورووړ !
- بشير جانه ! ستاپه باب موږټول ډول خبري اوتبصري اوورو چي ته پخپله موږ ته ځوابونه رانه کړي ښايي ستا په حق کي خطر ناکه پريکړه وشي نور موږ انتظار ته مه پريږده ځواب راکړه !
دبشير په تندي ناڅاپه دغوسي توري توري ليکي جوړي شوي
- څارانوال صيب! ما ويره وه مه ! زه نه ويريږم ، زه له يو خداي «ج» نه پرته له بل هيچا هم نه ويريږم .
بيا لږ تم شو دخولي لاړي يي تيري کړي لږ په جوش غوندي يي لاس پورته کړل اووي ويل :
که زه له مرګه ويرداي هغه به مي نه واژه ، ماخپل سر په تلي کي نيولي زه پوهيږم چي اوس بل وخت راغلي ...
- ښه نو زموږ پوښتني ته ځواب راکړه :
- درکوم يي ! زه ټوله کيسه درته کوم ، سرتر پايه ټوله کيسه ...
په کوټه کي دري واړه ناست کسان څټ شول ، څارانوال دځنګ ملګري ته دليکلو اشاره وکړه هغه هم قلم په ګوتو کي چمتو کړ اودبشير خولي ته يي پام واړاوه .
دبشير په شونډو يو ځل بيا هم يو لنډ شانته تبسم وځغليد خو ژر بيرته جدي شو اوبيا يي په خبروپيل وکړ :
- دځوکالو وړاندي خبره ده ماداعزيز دکافر زوي نه پيژاند اونه مي يي نوم اوريدلي ؤ شپږ اوه کاله وړاندي چي هغه لويه قوه راغلي وه، زه لاهغه وخت لس يوولس کلن ماشوم وم ...
بشير دڅارانوال دملګري قلم ته کتل چي په سپين کاغذ توري ليکي تري پاتي

کیدي او په داسي ژورو چورتونو کي ډوب غوندي شو لکه کوم څه چي ورپه یادوي بیا ئي څارانوال ته وکتل ، اوس یې دسترګو په کونجو کي دوه څاڅکي ځلیدل ، چاځکه نه ویل اودي چوپتیا بشیر ته دحکم حیثیت درلود چي اوه کاله وړاندي څه پیښس شول دهغه کیسه وکړي .

– صیب اهغه قوه بنیم چي روسان هم پکي وه اووطني کافران هم ، دمینونو اووسلو پیدا کولو لپاره سپي ورسره وو اودخلکو د نیولو لپاره ځوتنه داسي بلدي کسان ورسره وه چي دکلیوالو په مخکي بې مخ توري جالي غوړولي وي .

زمونږ کلي ته سنه ډیر روسان راغلل ، له هغوي سره هم یوتن ؤ چي په مخ یې توره جالي غوړیدلي وه . دوه کوورنه یې وسوځول چرګان اوپسونه یې یو وړل ، دچاپیسي اوقیمتي شیان یې پري نښنودل زمونږ کلیوال یې ټول دکلي په منځ کي راټول کړل ، په دغه خلکو کي زما پلار هم ؤ ، مور خوتنه ماشومان هم وو ، بیا دتوري جالي لرونکي راغي ټول خلک یې ولیدل اوبیایې یوه روسي ته په پردي ژبه څه وویل اوزما پلار ته یې اشاره وکړه ، زما پلار روسانو تر کونداغونو لاندي کړ ، چي دوهلو یې پري زړه یخ کړ ، بیا یې پورته دغوندي سرته دخپلي قرار ګه په لوري ورسه روان کړ .

زه په پلار پسي ورغلم ، هلته مي روسانو ته زاري کولي ، بیا همدغه دتوري جالي خاوند راغي ، جالي یې په سراړولي وه هغه په ستوغه لهجه وویرولم : ورځه د سپي زویه !

پلار دي مور ته اشرار چاغوي !

ورځه که داځل مي ولیدي دکلاشنکوف دیرش مرمي دي ترسینه ویاسم . دهغه اخطار وویرولم اوپه منډه بیرته کورته راوګرځیدم ، دهغه تورمخ او وړي وړي سترګي مي دذهن په پرده نقش شوي زمونږ په کورکي و اویلا ګډه شوه ، زما پلار لیوانو یو وړ چابه ډلیوانو له خولي راخلاصولي شواي ......

دبشیر ستوني رادك شو اوښکي یې تر سترګو راتویې شوي ، دڅاروانوال ملګري تیز تیز قلم په کاغذ راڅرخاوه اودقلم هغه مخصوص غږ په کوټه کي خور ؤ هغه لږ وروسته یو اوږد اسویلي وکیښ په خپله لمن یې سترګي پاکي کړي اوکیسي ته یې دوام ورکړ :

– دري ورځي وروسته قوه بیرته ولاړه زمونږ کلیوال کلي ته لنډي غونډي ته وختل چي زما دپلار پته معلومه کړي ، پلار مي دغونډي په لمنه کي پروت ؤ ... هغه شهید ؤ دکله کوف بیشمیره ګولي یې پر سینه او بدن لګیدلي وي . ..

دڅارانول دوهم ملګري لاس په مخ راښکود :

– خداي «ج» یې دي وبښي سه سري وو . ..

– هوصیب ! هغه ورځ په بازار کي ګرځیدم چي ناڅابه مي مخي ته هغه راغي ، اوس یې ځیري لږ تغیر موندلي ؤ چانته یې په غاړه کي وه پکول یې پر سرؤ او کلاشنکوف هم پر اوږه په لومړي نظر مي ونه پیژاند خو شکمن شوم چي داځوك دي مالیدلي ، خو په ځاي یې نشم راوړي او چي بیا مي دهغه سترګو ته وکتل نا څاپه مي هغه قوه ، روسان او دتور وجالیو خاوندان را په یاد شول ، بیامي هغه راپه یاد شو چي ماته یې په سپکه لهجه کنځلي کولي اوزما پلار یې دکلي نه پاس غونډي په لوري ورسره کشاوه ، همغه ؤ ، پخپله دي ؤ ، همدغه عزیز کافر .

نور زه په ځان پوه نه شوم ، سر مي چکر وخوړ ، یووخت مي پم شو چي زه ځنو خلکو کلك نیولي وم ، قوماندان صیب ته یې ودرولم اویوه تن زما کلاشنکوف هم ورته ونیو اووي ویل :

صیب ! عزیز یې وواژه ، هغه معلم عزیز !

بشیر چوپ شو ، یوه اوږده آرامه ساه یې واخستله لکه په کوم لوړ کوتل چي ختلي وي یایې کوم دروند بار له اوږو کوز کړي وي بیا یې ورو وویل :

– داوه زماکیسه اوزما قتل ، زه اوس هم پیښمانه نه یم ماقتل نه دي کړي ، ماغزا کړي ، مادخپل پلار کسات اخیستي

دخپل شهید پلار او بیا بشیر دخپل پلار په یادولو سره لږ ژړغوني شو خوزریي احساسات پر ژړا وربرمن شول وي ویل : زه پوهیږم چي اوس هغه وخت نه دي ، اوس ما خلك غازي نه قاتل بولي ، اودشاباس پرځاي به مي محاکمه کوي . اوس خلك کافران ساتي ...

دڅارانوال په ځیره کي دیوه ترخه حقیقت اثر غزوني وکړي ، سترګي یې سکته واچولي ، دپاځه عمر ځارانوال ډیر مجرمان په خپله ګناه اقرار ته مجبورکړي وو ډیر و خلکو دهغه ددلیل اومنطق زور ته ګونډه وهلي وه خونن هغه دلومړي ځل لپاره مات شوي ؤ ، بې خوابه شوي ؤ ، هغه خوب نه درلود .

دبشیر خبري یې دغوږو نوله لاري دزړه تل ته ولویدي په سترګو کي یې دهغو پګړیو اوږیرو خاوندانو ځیرو چورلکونه خوړل چي داځو ورځي یې دبشیر دجرم اوعزیز دمسلماني ! شاهدي ورته تیرولي ځارانوال سردپښو خواته ځوړند کړ ، سترګي یې په ځمکه ښخي وي لکه په بانو ګانو پوري یې چي درانه کاني ځوړند وي ، سترګي یې نه شواي پورته کولي ، هغه تر ډیره مذبذب ؤ ، دوه زړي ؤ یوي خواته دډیرو صاحبانو غوښتنه اوفرمایش او بلي خواته بشیر ... بالاخره هغه سراپورته کړي بشیر ته یې وکتل ، په سترګوکي یې خو شیبي وړاندي بې تفاوتي نه وه یو ډول مینه وه ، یواحساس ؤ ،شونډي یې ورپیدي .

– ته .. غازي یې . غازي دنر بچیه ! ته غازي یې .

تاجیځوك هم قاتل نشي بللي .... !

حريت ته څو مشورې

دحريت مجلې درنو کارکونکو !

السلام عليکم ورحمة الله

داسلامي انقلاب په دې حساس پړاوکې دسنګرونو دپياوړې کيدو او وحدت ترڅنګ دمطبوعاتو دکيفيت بنه کيدوته له بل هر وخت نه زياته اړتيا ليد ل کيږي ، ، کيفيت ځکه وايم چې لله الحمد دکميت په لحاظ زموږ جهادي نشرات دومره زيات شوي چې زما په شان خلکوته خوئي تش نومونه هم پوره نه دي ياد .

باور لرم تاسو هم قانع ياست چې ځني نشرات دومره نيمګړي دي چې په مکمله ګڼه کې ئي داسې کوم علمي ، تاريخي ، حماسي ، ادبي ... مضمون نه ليدل کيږي چې دلوستونکو زړه راوکاږي . که زياتي نه ښکاري داسې نشر يه خوږو شته نه چې دسياسي رقابتونو دپيڅول له ټڼدو وتلي وي . له بلې خوا اکثره نشرات ايله دهجرت دچاپيريال په څو مختصرو واقعاتو اوسياسي اوجهادي هغو راپوړونو کې خلاصه شويدي چې زيات يې دير ځند من اوله وخته وروسته دي . که دمربوطه تنظيم درهبر عکس اوتکراري ويناوې يې نشر کړي وي بيا خودهغې ګڼې مطالب بيخي پوره بولي .

که څه هم ديوه نشراتي ارګان دمسؤليتونو اووجايبو په رابطه تاسو ته خپل ليکل اضافي ګڼم بياهم زما په فکر دهري نشريې سترمسؤليت دخپل ولس په وړاندې داسلامي بصيرت په رڼا کې دا فرادو اوحکمرانانو فردي اواجتماعي مسؤليتونه اوتګ لاره توجيه کول دي دا پخپله ښئي چې دژوند په مختلفو پړاوونوکي دنشراتو مضامين څه چې حتي لهجه هم فرق کوي . دژوند هر کښرليچ اولوړې ژورې دټولني هر بحران اويا تحول ځانته عوامل لري ، بيل تحليل غواړي ځانګړې نتيجه ګيري ته ضرورت لري اوډټولني افراد او امرأ په هرحالت کې ځانته اوشخصي مشورې ته نياز من وي .

په قرآن عظيم الشان کې دمسلمانانو دعبرت ، تنبيه اوتوجيه لپاره دمختلفو اقوامو دترقي اوزوال زياتي تاريخي قصي ذکر شويدي رښتيا هم داسې عبرت ناکې قصي دانسانانو په تصميم او تګ لاره کې پوره تغير راوستلاي شي ، پدې اساس دژوند په هر پړاو خصوصاً دانقلاب پداسې حساسو شيبو کې د منتخبو تاريخي داستانونو نشرول اويه پاي کې په هغه باندې يو تنبيهي نتيجې ليکلوته پوره اړ تيا ده . له بلې خوا تاسو ته پته ده چې دافغانستان په روان اسلامي پاڅون کې داسې زيات مجاهدين تير شوي اوځني يې لا اوس دژوند په کشمکش کې لګيادي چې دميړاني او سرښندني ،تقوي اوقهرمانيو ژوندي ځلي دي ، خو داستر ستر تاريخي شخصيتونه اکثراً نه شي توانيد لاي اويافرصت نه لري چې ورباندې تير شوي معجزه آسا واقعيات دقلم په ژبه دکاغذ پرمخ ثبت اود راتلونکو نسلونو دسرمشق لپاره ئي ديوې ارزښتناکي تحفې په توګه پريږدي ، نوکه له دوی سره دقلم دخاوندانو له خوا مرکې ونه شي اويا دهغوئي حالات له نژدې مشاهده نه شي معني ئي داده چې دير غټ افتخارات او آموزنده داستانونه له دوی سره يو ځاي ددې خاورينې کړې تل ته ځي .

آخوا دسياسي حالاتو تحليل ګران دومره زيات شوي چې دهرې پيښې اوحالت اصلي څيره دمختلفو تحليلونو په دورو کې له بيچاره ولس نه بيخي ورکه شي . يو آشناد ځينو خاصو کومکو دراجلبولو په وجه بل انډيوال دخپلو پټو تعهداتو په نظر کې نيولو سره ، دريم يې دکوم رقيب دځپلو په خاطر ... دخپلې خوښې تحليلونه کوي ، که ددوی په دې تحليلونو ځني بې خبره کسان خپل پروګرامونه عيار اونتايج ئي ددې مسلمان ملت په ګټه نه وي نوددوی ئي پرې څه ؟

دلته بيا ديوه واقعبين اورښتوني څيړونکي وظيفه ده چې داسلامي بصيرت په رڼا کې هغه مشخصه پيښه وڅيړي ، تياره ګوټونه يې په خپل علمي تحليل روښانه ، ورباندې مرتب نتايج ئي په ګوته اودې اسکيرلې ملت ته ئي وړاندې کړي . څه پيښې

خوداسي وي چي په ښکاره ديوه يا خوشخصيتونو دقتل اوشهادت مسئله وي ،طبعي ده چي دملت ټول افراد دداسي اشخاصو دژوند په اهميت اوپه اسلامي انقلاب کي د هغه درول په ټولو ابعاد وخبرنه وي ، بل لوري ته داسي ترورونه اکثراً دجهاني کفر دمکرونو اودسيسو دستر جال کړي وي چي دخپلو شومو اهدافو دپرمختګ لپاره داسلامي مفکرينو اوانقلابيونو په پاکو وينو خپل ناولي لاسونه رنګينوي .

دخيرونکو وجيبه ده چي ددي شيطاني شبکو اصلي څيري افشاء او ملت دهغوئي په مقابل کي بيدار اوحساس کړي .

دنشراتي ارګانونو دمسؤلينو اوخيرونکودلس ها ؤ مسئوليتونو له جملي صرف څو دګوتو په شمار مي دڅوني په توګه دحريت مجلي درنو کارکونکو ته ځکه وليکل چي دهغي دلومړي شماري زيات مضامين راته ډېره راښکونکي اودوخت دضرورتونو مطابق په نظر راغلل ، ځکه مي ديوه لوستونکي په توګه پر ځان لازم وګڼل چي دهغي دکارکوونکو دلازياتو برياليتوبونه دهيلي ترڅنګ په خپل مات ګوډ قلم پورتنيو شيانو ته هم ستاسو توجه واروم .

په نړي کي داسلامي پاڅون دبري په هيله .

داسلام په درد دردمن اوپه خدمت ئي سرلوړي اوسي .

(م – ن) له نصرت ميني نه

درونډ وروم (م– ن)!

عليکم السلام ورحمة الله وبرکاته !

ليك مو خورا په زړه پوري و درد او زړه سوي رنګ پکي له ورايه ښه غالب بريښي ، له خداي «ج» څخه توفيق غواړو چي ستاسي په مشورو عمل وکړو او ګران اسلام اوخپل مظلوم ملت په خدمت کي ممکن زيار دريغ نکړو. په درناوي

ا د ا ر ه

مراوي غوټي

لوټې موخوبني شوي تش غمونه راته پاتي شـــول
هيلي موزندي شوي تش ويرونـــه راته پاتي شـــول
شاړشوي ډاگونه زموږ خوب له ســترگو تښــتوي
وراني آباد شوي تش اورونه راتـــه پاتـــي شـــول
دير مو چي ددين اودوطـن پـــه وير كـــي وژړل
غلي موسلگي شوي تش آهونه راته پاتـــي شـــول
چوپې شوي دژوند نغمي ويجاړي مو جونگړي شوي
خاوري پري ډيري شوي تش وهمونه راته پاتي شول
ويري پرگني شولي له ســترو مـــيړنـو خـالي
خومره بي كسي شوه! تش قبـرونه را ته پاتي شول
هادگلوين چي اوبه خـــور يي زمـــوږ وينـــي وي
مراوي يي غوټي شوي تش خارونه راته پاتي شول
ټولي تاندي هيلي ، مستي مستي خندا گاني مـو
والوټي مرغي شوي تش دردونه راته پاتـي شـول

ارشادنبوي

از ابوزيد اسامه بن زيد بن حارثه رضي اللّه عنهما روايت شده كه گفت : از رسول اللّه صلي اللّه عليه وسلم شنيدم كه مي فرمود : مردي در روز قيامت احضار شده ودر آتش انداخته مي شود كه روده هايش از شكمش خارج است وهمچون خري كه در اسياب بسته باشد انرا مي چرخاند. اهل دوزخ بر او گرد آمده مي گويند : اي فلاني چرا به چنين وضعي گرفتار شدي ايا توبه كار هاي خوب امر نمي نمودي واز كارهاي بد مردم را منع نمي كردي اومي گويد آري به كار هاي خوب امر مي كردم ولي خود انرا به جاي نمي آوردم واز كارهاي بد منع مي كردم وانرا خود انجام مي دادم .


داسلام مخلص سپاهي اوننگيالي غازي شهيد شكرالله جان چي څوارلس
كاله پرله پسي په مومنانه برم او مجاهدانه صداقت دخداي «ج» په لار كي
وجنگيد اوپه هسكه غاړه ئي دشهادت خوږ جام په سر واړاوه .